﴿وَقَالُوا مَا هِيَ إِلاَّ حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلاَّ الدَّهْرُ﴾

# رد الحاد او سيکولرزم

مؤلف :حمدالله شاکري


بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک

[د رد الحاد منهج او طريقه]

[د الحاد تعريف]

[د الحاد پدايشت]

[د الحاد اقسام]

[اسلامي هيوادونو ته د الحاد د داخليدو اسباب]

[د الحاد د خپراوي اثرات پر اسلامي ټولنه]

[د اسلام دغلبي لارې او تدابير]

[د الحاد افکار او عقائد]

[د الحاد د غلطو افکارو او اعتقاداتو رد]

[د «داروين» نظريه]

[د مادې د ازلي توب نظريه]

[د سترې چاوندنې (big bang) نظريه]

[رد الحاد او د الله تعالی پر وجود قراني ،علمي او عقلي دلائل]

[آيا سپوږمۍ له ځانه نور لري ؟]

[الله تعالی د رزق سره اسباب هم نازل کړي]

[لمر په ځمکه کې دطلوع او غروب محلونه لري]

[د يو سړي په نسبت د دوو ښځو ګواهي حق او که مسئوليت]

[د آسمان په باره کې د يوې شبهې ځواب]

ځمکه يوه طبقه اوکه اووه طبقې

ځمکه يوه طبقه او که اووه طبقې

لومړی ځمکه پیدا شوې او که آسمان

دکائیناتو د پیدایښت په ورځو کې دیوې شبهې ځواب

د ام مؤمنین عایشې رضی الله عنها د واده په اړه دیوېشبهې ځواب

د ام مؤمناتو د تعدد حکمت

په نکاح کې د ښځو دتعدد حکمت

په اسلام کې د مرتد د سزا حکمت

ولی اهل کتاب خپل دین بدلولی شي خو مسلمان خپل دین نشي بدلولای ؟

د یو غیر مسلم د سوال ځواب

ولې اهل کتاب له یوې مسلمانې جینۍ سره واده نشي کولای ؟

یهود او نصارا ولې خپلو ادیانو ته د دعوت حق نلري ؟

د خنزیر دغوښې د حرمت حکمت

آیا په نړۍ کې جګړې ته لمن وهونکي مسلمانان دي ؟

په اسلام کې د حدودو د قیام حکمتونه اوګټې

د ښځې او نارینه د مساواتو مسئله

د اسلامي ذبحې (مرۍ پرې کولو) حکمت څه دی ؟

د ښځو د ورځ لمانځنې اصلي موخه او هدف څه دی ؟

غرب په اسلامي هیوادونو کې څه ډول اسلام غواړي ؟

# سریزه

الحمد لله الذي خلق السموات والأرض وجعل الظلمات والنور ثم الذين كفروا بربهم يعدلون، والصلاة والسلام على نبينا محمد، الذي أرسله الله هاديًا ومبشرًا ونذيرًا، وداعيًا إليه بإذنه وسراجًا منيرًا، أما بعد:

مسلمانانو ورونو او خويندو ! مونږ په داسې يو زمانه کې اوسېږي چې فتنې ډيرې دي د دغو فتنو څخه يو ستره او خطرناکه فتنه په اسلامي هيوادونو کې د الحاد خپرول او د ملحدينو اشغال دی.

هغه ملحدين چې ځينې د الله تعالی د وجود څخه انکار کوي ځينې د آسماني دين څخه انکار کوي ، او ځينې د دين او سياست جلاوالی غواړي ،او دغه د شيطان او دجال لښکر په خو پوخو احمقانه فرضيو او خيالي دلائلو او اوهامو سره غواړي چې په مسلمانانو کې خپل پوځ عقائد نشر کړي او يا د مسلمانانو په عقيده کې شکونه واچوي او يا د الله تعالی بنده ګان د خالص عبادت څخه منع کړي او د وهمي خيالونو او شهواتو په دام کې يې را ګير کړي .

ډير ملحدين د کائيناتو په ستره هستئ او خپل بدن کې د الله تعالی د قدرت نښې وينې خو بيا هم د کبر ، خواهشاتو او شهواتو د وجې انکار کوي ، لقوله سبحانه وتعالى : [سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ] (فصلت: 53).

ژباړه: ژر به وښايو هغوی ته خپل دلائل د کائنتانو په مختلفو څنډو او د هغوی په ځانونو کې ، تر څو ورته په ډاګه شي چې زمونږ خبره حقه ده . آيا دا خبره کفايت نه کوي چې الله له هر شي نه خبر او پرې شاهد دی .

او فرمايي :[ وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ] (النمل: 14).

ژباړه: او د ظلم او غرور له کلبه يې ترې انکار وکړ سره له دې چې زړونه يې ښه پرې باوري شوی وو . نو وګوره چې د مفسدانو پای څنګه دی ؟

د انکار سربيره کوښښ کوي تر څو خپلې پوچې عقيدې ته نور خلک دعوت کړي ، د حق پر وړاندې جګړه کوي او غواړي په مسلمانانو کې شکونه واچوي .

په دغه رساله کې د ملحدینو د ټولو پوچو عقائد علمي رد شوی او د دوی چې کوم شبهات د اسلام په باره کې وارد کړی دي د هغو رد شوی دی .

الله تعالی ته سوال کوم  چې ماته او ټولو هغو ورونو ته چې د دغه مطالبو په خپرولو کې برخه اخلي دغه عمل خاص لله تعالی وګرځوي او مونږ تاسې ته یې د قیامت د ورځې لپاره ذخیره کړي هغه ورځ چې : [ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ *إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ] (الشعراء: 88، 89).

ژباړه: په هغه ورځ چې نه مال ګټه رسولای شي او نه ځامن ، مګر ګټه یوازې د هغه چا ته چې الله تعالی ته په پاک زړه ورشي .

او الله تعالی دې دغه (رد الحاد رساله) ټولو مسلمانانو ته ګټوره وګرځوي او الله تعالی یې دې د کفر او الحاد پر وړاندې دفاعي کمر بند وګرځوي .

و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه والتابعين لهم بإحسان إلى يوم الدين.

## د «رد الحاد» منهج او طریقه :

د الله سبحانه وتعالی د وحدانیت او دین طرف ته دعوت به د اسلامي شریعت د منهج موافق وي .

د مخالف لوري سره به په ښه شان او ښه طریقه بحث او استدلال تر سره کیږي .

لقوله سبحانه وتعالى :[ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ] (النحل ١٢٥).

ژباړه: بلنه کوه لیاری د رب خپل ته په حکمت سره او ښکلي نصیحت سره بلنه کوه او له دوی سره په هغې طریقې سره مجادله (مباحثه) کوه چې هغه تر ټولو ښه وي.

د اسلامي دعوت شرط علم او بصیرت دی. د مخالف لوري سره بحث او استدلال کوونکی به پر خپل استدلال حاکم او عالم وي .

قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللهِ عَلَى بَصِيرَةٍ  (یوسف ١٠٨)

ژباړه : ووایه دغه لاره زما ده چې خلق بولم د الله طرف ته  په بصیرت ( علم او ښکاره بیان ) .

او کچېرې څوک د مخالف لوري سره مخامخ شي او د ده سره د بحث او استدلال علم نه وي نو د علماؤ څخه به پوښتنه کوي .

فَاسْأَلُواْ أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ 43 (النحل ).

ژباړه: نو تاسو له اهلِ علمو نه پوښتنه وکړئ که چېرې تاسو يئ چې نه پوهېږئ .

زمونږ ځيني ورونه چې کله د مخالف لورې او د هغه د شبهاتو سره مخامخ شي نو د ليل او بحث نه پوهيدو په صورت کې د قهر او غصې له وجې مقابل لورې ته ښنځل کوي او د دليل پر ځاى بد رد ورته وايي دا کار په لاندې دلائلو ډير نا مناسب کار دى .

۱- د اسلامي شريعت له منهج او طريقې څخه مخالفت .

۲- د مسلمانان بد نامي ، اسلام او مسلمان ته د طعن متوجه کيدل.

۳- ددې کار څخه د مخالف لورې سوء استفاده .

۴- د شبهاتو په ګرداب کې را ګيرېدل ځکه چې د ده سره يې ځواب نشته .

ټول مسلمانان او د حقې لارې داعيان بايد دې خبرې ته متوجه وي چې اسلامي دعوت او «أمر بالمعروف و نهى عن المنكر » لوى کار دى ، د پيغمبران عليهم السلام لاره ده ، ستر اجر لري او لوى عبادت دى او د هر عبادت د قبول لپاره دوه شرطونه دي : اخلاص لله سبحانه او اتباع رسول الله صلى الله عليه وسلم .

اسلامي دعوت به هغه وخت مأثر وي چې په شرعي منهج او طريقه برابر وي .

د قرآنکريم او سنتو منهج ته که وکتل شي نو د هرې ډلې د عقائدو او افکار و موافق اسلوب او استدلال نه کار اخيستل شوى دى ، د الحاد او دهرينو لپاره يو قسم اسلوب او استدلال ، د مشرکينو لپاره بل قسم ، د اهل کتاب لپاره د هغوى د افکارو او عقائدو موافق او همدارنګه د منافقينو لپاره د هغوى د عقائدو موافق اسلوب او استدلال په نظر کې نيول شوي دي .

د دغه رسالې (رد الحاد او سيکولرزم) منهج شرعي دى او د هغه تر څنګ عقلي ، علمي او سا‌ينسي دلائل هم وړاندې شوي دي .

و ما توفيقي الا بالله عليه توكلت و اليه انيب

## د الحاد تعريف :

الحاد په لغت کې میل او کوږوالي ته وايي.

په اصطلاح کې الحاد د الله تعالی د وجود څخه انکار کول ، او دا عقیده لرل چې :موجوده کائینات د کوم خالق پرته تصادفي پیدا شوي دي ، او دا عقیده لرل چې : ماده ازلي او ابدي ده ( مادې ته په یو وخت کې د خالق او مخلوق دواړو صفت ورکول) او په کائیناتو او طبیعت کې تغیرات تصادفي ګڼل .

( الموسوعة الميسرة في الأديان جـ2 صـ803).

قرآنکریم په هغو کسانو باندې چې د الله تعالی د وجود نه منکر دي د (الدهرية ) اطلاق کوي.

الدهرية : هغو کسانو ته وايي چې په ماده عقیده لري ، د الله تعالی د وجود نه انکار کوي ، د بعثت او حساب څخه انکار کوي او وايي ژوند او مرګ د اشیاؤ طبیعت دی .

الله سبحانه وتعالی فرمايي: [ وَقَالُوا مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ وَمَا لَهُمْ بِذَلِكَ مِنْ عِلْمٍ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ] (الجاثية: 24).

ژباړه: او هغوی وايي چې ژوند همدغه د دنیا ژوند دی چې همدلته مړه کیږو او پیدا کیږي او دا زمانه ده چې مونږ هلاکوي ، په دې برخه کې هیڅ پوهه او علم ور سره نشته .بس د اټکل له مخې هر څه وايي.

الله عز و جل فرمايي : [ أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ] (الطور :٣٥ ) .

ژباړه : آیا پخپل سر خپله پیدا شوي دي او که پخپله پیدا کوونکي دي .

قرآنکریم په څو مختصرو ټکو کې د دهرینو ماده پرستو ملحدینو پوچ افکار او عقائد مونږ ته بیان کړل چې پخپلو پوچو افکارو کې هیڅ علم او دلیل نلري بلکې یو اټکل ، وهم او خیال دی چې خپل ځانونه ورباندې تیرباسي او د نورو د تیرایستلو او ګمراهۍ کوښښ کوي.

## د الحاد پیدایښت :

په پخوا زمانه کې الحاد ډیر کم او په ندرت سره موجود وو وروسته تقریباً په (١٨) قرن کې لومړی په اوربا کې مینځته راغی بیا امریکا ته نقل شو او وروسته د عالم په نورو برخو کې خپور شو .

د نیوراک ټایمز مجلې په (۱۹۹۳) کال کې راپور ورکړی وو چې په امریکا کې ۹۶٪ خلک پر الله تعالی ایمان لري ، همدارنګه (US news and world report) مجلې په (۱۹۹۴) کال کې راپور ورکړی وو چې امریکا کې ۹۴٪ خلک پر الله تعالی ایمان لري او یوازې د ۵٪ په شا او خوا کې ملحدین دي .

( الفیزیا و وجود الخالق ص ۱۳ / دوکتور جعفر شیخ ادریس)

الحاد د څو باطلو لارو په وسیله مینځته راغلی دی چې ځینې مهمې یې په لاندې ډول دي .

۱- د سوسیالستي انقلاب مینځته راتلل :

کمونیزم او سوسیالیزم د یوې سیاسي او ټولنیزې فلسفې په شکل لومړې د کارل مارکس لخوا مینځ راغی . کارا مارکس په ۱۸۱۸ کال کې د جرمني په یوه یهودي کورنۍ کې پیدا شوی دی په ۱۸۴۷ یې د کمونسټ ګوند جوړ کړ او بیا یې د انګلیس په مرسته د کمونیزم مرام ترتیب کړ ، د جرمني ، فرانسې او بلجیم څخه د شړلو وروسته یې په لندن کې ژوند غوره کړ په کال د ۱۸۸۳ کې په داسې حال کې چې په چوکۍ کې ناست ؤ ساه ورکړه او مړ شو .

مارکس د سوسیالستي انقلاب په راوستلو کې بریالی نشو ، خو د هغه وروسته د لنن په مشرۍ په کال د ۱۹۱۸ د روسیې په خاوره کې سوسیالستي انقلاب مینځته راغی .

۲- سکولریزم یا غربي ډیموکراسي :

سیکولرزم (Secularism) لاديني یا غربي ډیموکراسي چې په عربی ژبه کې ورته (العلمانیة) وایي لومړی په (1789) کال کې د فرانسي په هیواد کې مینځته راغی .

د بریطانیا دائرة المعارف یې داسې را پیژني : سیکولرزم یو ټولنیز خوځښت دی چې موخه یې د خلکو ګرځول له آخرت څخه یوازې دنیا ته (Encyc, V. IX, p. 19.) .

د عصري الحاد ، لادینی ، سیکولار او غربي ډیموکراسی د پیدایښت وجه په مستقیم او غیر مستقیم ډول اورپایي کلیساوې وې چې هغوی په خپل منسوخ شوي دین او تحریف عقائدو کې زیات خرافات ځای پر ځای کړي وو ، د علم او نویو حقائقو سره یې کرکه او مخالفت کولو او په دې لاره یې ځینې پوهان قتل او په اور وسوزول .

آسماني دين يې کاملاً تحريف او د خپلو رأيو او خواهشاتو موافق جوړ کړی وو ، چې د خلکو مشکلات نه ور باندې حل کېدل څکه نو خلک ددې تحريف او ساختګي دين څخه د لاديني خواته منحرف شول.

۳- د عقل او علم خلاف خيالي نظريې او فرضيې :

د فلاسفه ځينې فکري قواعد او فرضيې که څه هم دوی خپله پر الله تعالی ايمان لرلو خو فکري قواعد ، نظريات او فرضيې يې الحادي وې او د خلکو د الحادي انحراف سبب شوې .

لکه : د مادي د ازلي توب نظريه چې (ديکارت ) وړاندې کړه ، او د ديکارت په اړه اکثره خلک په دې نظر وو چې هغه پر الله تعالی ايمان لرلو .

او يا د اينشتاين او جورج سموت لخوا د جهان د پيداښت په باره کې د سترې چاودنې (Big bang) نظريه.

او يا د (داروين ) لخوا د تکامل نظريه .

دغه فرضيې او نظريې د عقل او علم خلاف دي چې په راتلونکو مطالبو کې به په عقلي ، علمي او شرعي دلائلو رد کړ شي .

۴- د ماده پرستی او نفسي خواهشاتو په وجه له حق څخه انکار :

ډير کسان بيا د خو ورځو ژوند مزو او چرچو مغرور او غافله کړل له حق څخه يې مخ وګرځاوه او همدا څو ورځې ژوند يې خوښ کړ ، ددې لپاره چې څو ورځې ژوند په محدودو مزو او شهواتو کې تير کړي نو له دين او مطلقو ټاکل شويو اخلاق څخه يې مخ و ګرځولو څو په خلاص مټ خپل بغاوت تر سره کړي .

الله سبحانه وتعالی فرمايي:[ذَلِكُم بِأَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا وَغَرَّتْكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا فَالْيَوْمَ لاَ يُخْرَجُونَ مِنْهَا وَلاَ هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ] (جاثيه :۳۷).

ژباړه: دا هر څه لدې کبله چې تاسې د الله آيتونه په ټوکو نيولې او دنيوي ژوند غولولی واست . نو نن به نه له اور څخه وايستلای شئ او نه به ترې غوښتنه وشي چې ( د خپل رب د خوښې لپاره) عذر او زاری وکړي .

او فرمايي :[إِنَّ الَّذِينَ لاَ يَرْجُونَ لِقَاءنَا وَرَضُواْ بِالْحَياةِ الدُّنْيَا وَاطْمَأَنُّواْ بِهَا وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ * أُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمُ النُّارُ بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ] (يونس :٧-٨).

ژباړه:يقيناً هغه کسان چې زمونږ د ملاقات هيله من نه دي او د دنيا په همدغه ژوند خوښ او زړه يې پرې ترلی او هغه چې زمونږ له آيتونو بې پروا دي. د همدغه کسانو ورتګ اور ته د هغو بدو کړنو بدل دی چې په دنيا کې به يې تر سره کول .

پس دوی د ديني احکامو او ديني اخلاق څخه فرار کوي او نه غواړي چې تر مقررو او مطلقو اخلاقو لاندې ژوند تير کړي لکه : د زنا ، لواطت ، سود او قمار ، ظلم او فريب ، شرابخوري ، فشحاء د حرمت څخه فرار کول او د خلکو د غوښتنې موافق پرته له مطلقو اخلاقو ژوند تيرول هغه که د سپي او خره سره واده کول ، همجنس بازي او لواطت او نور داسې پست اعمال که څه هم د انسان د فطرت خلاف هم وي خو چې د دوی د الحادي دين او غوښتنې موافق وي باک نلري .

د مزو او چړچو پر مهال يې چې څه زړه غواړي هغه تر سره کوي ولو که د انساني فطرت خلاف هم وي خو کله چې د سختۍ او تکليف سره مخ شي بيا ځان وژنې ته زړه ښه کوي ځکه چې هيڅ صبر او سکون نلري .

نو واضح شو چې دا فقط د خپلو خواهشاتو بندګان دي د مزو او چړچو لپاره هر څه ته حاضر خو د سختۍ پر مهال بيا پخپل ځان پورې حيران او خپل ځان هلاکت ته غوځوي.

(تاريخ العلمانية في بلاد المسلمين)

## د الحاد اقسام :

الحاد عموماً په دوه ډوله دی:

الحادي سيکولرزم: هغه الحاد دی چې د دين او د الله تعالی د وجود څخه په کلي ټوګه انکار کوي او د دين هيڅ شي ته قايل نه دي او د هغو کسانو پر وړاندې جګړه کوي چې د ايمان طرف ته دعوت کوي .

غير الحادي سيکولرزم: دا هغه سکولاريزم دی چې ظاهراً د الله تعالی د وجود څخه انکار نه کوي مګر د سياست او ژوند په چارو کې د دين او ديني احکامو او نواهي څخه انکار کوي او وايي چې دين له سياست او دينوي چارو سره هيڅ رابطه نه لري ، يعنې د دنيا د چارو څخه يې دين لرې کړی دی .

دا سکولار د لومړي څخه ډير خطرناک دی ځکه چې د عوامو مسلمانانو د تلبيس او تير ايستلو لپاره يو خطرناک دام دی .

## د سيکولرزم او ډيموکراسی ترمينځ څه فرق دی ؟

د ډيموکراسی او سيکولرزم رابطه او تعلق داسې دی لکه د فرع له اصل سره ، مثلاً د ميوې رابطه له ونې سره .

سيکولرزم اصل دی چې يو معاصر کفري مذهب دی چې د دنيا د ټولو چارو څخه لکه : سياست ، ټولنه ، اقتصاد ، اخلاق او قانون څخه يې دين په کلي ډول لرې کړی دی.

او ډيموکراسي د سيکولار فرع يا سياسي برخه ده چې د سياست له ټولو ځانګو څخه يې دين لری کړی هغه که د يو ګوند په سطحه وي او يا د يو حکومت .


العلاقة بين الديمقراطية والعلمانية هي علاقة الفرع بأصله، أو علاقة الثمرة الخبيثة بالشجرة التي أثمرتها، فالعلمانية هي " مذهب من المذاهب الكفرية التي ترمي إلى عزل الدين عن التأثير في الدنيا، فهو مذهب يعمل على قيادة الدنيا في جميع النواحي السياسية، والاقتصادية، والاجتماعية، والأخلاقية، والقانونية وغيرها، بعيدا عن أوامر الدين ونواهيه. "
والديمقراطية تقوم أساسا على إسناد السيادة أو السلطة العليا للأمة أو الشعب وهذا يعني أن الكلمة العليا في جميع النواحي السياسية إنما هي للأمة أو الشعب .
و على ذلك يمكننا القول: إن الديمقراطية مذهب من المذاهب الفكرية التي ترمي إلى عزل الدين عن التأثير في جميع النواحي السياسية، فالديمقراطية إذن هي التعبير السياسي أو الوجه السياسي للعلمانية (الدرر السنية – موسوعة المذاهب الفكرية المعاصرة)

## ډيموکراسي څه ته وايي ؟

تعريف : د ډيموکراسی (Democratie ) لغت لاتيني دی ، چې له دو برخو جوړه شوې ده (Demos ) په منعی د خلکو او ( ) Cratie په معنی د حکومت چې پوره معنی يې د خلکو حکومت يا د خلکو لپاره حکومت ده.

په اصطلاح کې ډيموکراسي د سيکولزرم سياسي برخه ده چې دين له سياست څخه په کلي توګه جلا کوي .

**د ډيموکراسی اهداف**




**۱ - ځمکنی قانون** :

د ديموکراسی بنسټ دی چې قانون به ځمکنی وي او د آسمان قانون د قبول وړ نه دی ، حال دا چې د انسان په مفاسدو او مصالحو ، خير او شر يوازې الله تعالی پوهيږي او هغه (جل جلاله ) د انسان د پاره اسلامي قانون او شريعت نازل کړی بل هيڅوک ددې حق نلري ، لقوله سبحانه وتعالی : [ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ] (الأنعام/ ۵۷).

ژباړه : پرې کړې يوازې د الله تعالی په واک کې دي.

د مفسرينو په اتفاق د کفري قانون خوښول ، د اسلام په پرتله هغه ته ترجيح ورکول او يا د اسلامي شريعت سره د هغه مساوي ګڼل کفر دی او که دا عقيده نه وي د جهل ، قدرت او بل څه په وجه داسې کوي کفر اصغر (کبيره ګناه ده ) (تفسير ابن کثير او تفسير الطبري ).

**۲ -اختياري اخلاق** :

په ديموکراسۍ کې ثابت او مطلق اخلاق وجود نلري بلکې اختياري دي چې د خلکو د رأيو او پارلمان لخوا ټاکل کيږي ، مثلاً که پارلمان شراب حرام وګرځوي ، حرام دي ، حتی که خلک د همجنس بازی او لواطت مشروعيت او آزادي وغواړي نو آزاد او مشروع به وي لکه : تير کال چې د امريکا پارلمان د لواطت يا همجنس بازۍ قانون تصويب کړ.

لکن په اسلامي شریعت کې هیڅ څوک دا حق نلري چې حلال حرام او حرام حلال کړي که چا دا کار وکړ هغه په اسلامي شریعت باندې کافر او مرتد شو دا تفصیل به وروسته راشي.

**۳ -انسان مقدس دی :**

د انسان مقدس ګڼل دا معنی لري چې هر څه غواړي او کوي اختیار لري ځکه مقدس دی ، خپله به قانون ټاکي ، دا که په اسلامي مقدسان ، پیغمبر ، قرآن ، آسماني کتابونو او نورو مسخرې کوي کولای شي ځکه انسان مقدس دی او شریعت او اسلامي مقدسات هیڅ تقدس نلري (الغاذ بالله ).

او دا یو واضح او ښکاره شرک دی.

**۴ -آزادي :**

**الف) د بیان آزادي :**

د اسلام په مقدس دین کې د بیان داسې آزادي ده چې هغه د خیر او مصلحت لپاره وي نه د شر لپاره ، نه د چا د سپکاوي لپاره د مثال په ډول ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت په دوره کې خپل رعیت ته وایي که زه د تاسې شکایاتو ته غوږ ونه نیسم نو په ما کې خیر نشته او که تاسې ماته خپل غیبونه را په ګوته نه کړئ نو بیا پر تاسې کې خیر نشته.

همدارګه د اسلام دوهم خلیفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه یوه ورځ پر منبر د وغظ لپاره پورته شو یو کس را ولاړ شو او ورته وېې ویل : تر هغه د دعوت او تبلیغ حق نلرې تر څو چې زما پوښتنې ته ځواب ونه وایې امیرالمؤمنین ورته وایي څه پوښتنه ده ؟ ووایه ، هغه کس ورته وایي: پوښتنه دا ده چې د ټولو لنګونه یوشان ؤ (د غنیمت په پیسو رخت اخیستل شوی ؤ چې ټولو ته مساوي ویشل شوی ؤ) ولی ستا لنګ اوږد دی ؟

امیرالمؤمنین ورته وایي: ډیر ښه دا ځکه اوږد دی چې زما قد څه لوړ ؤ هغه لنګ نه رسیدلو د خپل زوی لنګ مې ورسره یوځای کړی دی .پوښتنه کونکی وویل اوس پوه شم خپل بیان ته ادامه ورکړه .

د بیان آزادی خو دې ته وایې چې په هغی کې خیر او مصلیحت وي.

ولې په اسلام کې د بیان دا ډول آزادی ته اجازه نشته چې په هغې کې د دین ، قوم او شخص سپکاوي وي لکه د نن ديموکراسی د بیان آزادي ، چې دین ، پیغمبر ، مقدساتو ، قوم او شخص ته سپکاوی یې د بیان د آزادی قانون دی.

ب ) : **د دین آزادي** :

په دیموکراسی کې د دین آزادي ده ، یعنې هر څوک اختیار لري ، چې هر کوم دین اختیاروي ، نو کولای شي ، خو دا هسې یو خیال دی ځکه دوی پخپل قانون کې هیڅ آسماني دین نه مني ، دیموکراسي نور د ټولو باطلو ادیان سره څه سازش کولای شي خو د اسلام او مسلمان سره هیڅ سازش نشي کولای ځکه هغه هیڅ آسماني دین نه مني ، دیموکراسي په اصل کې د اسلام د له مینځه وړلو یو کفري طاغوتي حرکت دی چې غواړي له دې لارې حاکمیت تر لاسه کړي اسلام له سیاست څخه ورک کړي او پر ځای یې وضعي قانون حاکم کړي مسلمانان جوماتونو ته حصار کړي ، داسې چې د منبر صلاحیت د بیان واک هم د دوی وي ، او بلاخره په دې طریقه هغه مسلمانان چې د اسلامي شریعت تحکیم غواړي له مینځه یوسي ، او غواړي په دې غوړ شعار باندې ضعیف الایمانه ، جاهل او بې احساسه مسلمانان وغلوي او د هغوی په ضد یې وکاروي تر څو هغوی (کفارو) ته د حکومت کول او اسلام او مسلمانانو له مینځه وړل آسانه شي (الغیاذ بالله)

ج ) **د اقتصاد او بازار آزادي** :

په دیموکراسی کې د بازار کامله آزادی ده ، حلال او حرام هر څه پکې چلیږي.

مګر په اسلامي شریعت کې د اقصاد له بنسټونو څخه دا دی چې : سود ، قمار ، احتکار ، شراب ، د خوګ غوښه ، حرام آلات او وسائل ، ظلم ، چل او فریب ټول حرام دي.

**۵ -انتخابات** :

په دیموکراسی کې د مشر ټاکل د عامو خلکو په رأیو تر سره کیږي داسې چې مصلح او مفسد ، عالم او جاهل ، تقوی دار او فاسق ، کافر او مسلمان به په رأیو کې سره مساوي وي.

مګر په اسلام کې امیر د علماؤ او متخصصینو د اهل الحل و العقد شوری ، یا د ولی العهد د ټاکلو له لارې او یا د فاسق او فاجر نظام نسکورول او د هغه پر ځای د اسلامي حکومت برقرارول د غلبې لیارې ټاکل کیږي.

## اسلامي هیوادونو ته د الحاد د داخلېدو اسباب :

۱- جهل : د خپلې دیني عقېدې او اساساتو څخه غفلت کول ، او د معاصرو عقیدتي بلاوو او فتنو د پېژندلو په باره کې غفلت کول .

کله چې یو کس د شرعي علم څخه لرې او ایماني تربیه یې سمه نه وي یقین یې ضعیف وي او د غرب د الحادي ثقافت تر سیوري لاندې وي نو لرې نه ده چې د کفر په تیارو کې را ګیر شي .

۲- د خپل دین څخه د مسلمانانو انحراف او پخپل دین باندې عمل نه کول ، فاسد اخلاق او فاسد اعمال تر سره کول ځکه چې داسې کول د ایمان د ضعف سبب ګرځي د مؤمن قوي ایمان او تقوی د هر ډول باطل پر وړاندې کلک دفاعي دیوال دی .

۳- د قوي یقین او شرعي علم پرته د کفر په دیار کې ژوند تېرول .

کله چې یو کس داسې ځای ژوند کوي چې هلته د اسلامي شعائرو د احترام او تعظیم پر ځای د شرق او غرب د الحادي فلاسفه او د هغوی د افکارو احترام او تعظیم کیږي ، د شرعي اعمال پر ځای کفري اعمال تر سره کیږي او د ده سره د کفر د بطلان علم او قوي یقین نه وي نو لرې نه ده چې د کفر په تیارو کې راګیر شي .

۴- کفري اشغال ، د کفري اشغال تر سیورې لاندې الحادي عقېدې ته زیاته پاملرنه او د اسلام پر ضد منفي تبلیغات ، د اسلامي مراکز او دعوت ګرو له مینځه وړل او یا تر فشار لاندې راوستل ، د اسلامي دعوت مخنوی کول او د هغه پر خلاف هر ډول کفري او الحادي عقائدو او تبلیغاتو ته وده ورکول .

د هغوی لپاره د ګومارل شویو اجینټانو روزل ، معاشونو ورکول او د تلویزیون ، رادیو ، انټرنټ پر مټ تبلیغات کول.

۴- د تعلیمي نصاب تغیرول او د غربي رسنیو فعالیت .

۵- د مسلمانانو په مینځ کې د فساد ، منکراتو او خرافاتو رواجول تر څو هغوی بدنام کړي ، نړۍ ته یې مفسدین معرفي کړي او په دې سره اسلام بد نام کړي .

۶- د تحصیل لپاره غربي هیوادونو ته د داسې کسان لیږل چې هغوی شرعي علم او تقوی نلري او د هغوی د عقائدو او اخلاقو تر تأثیر لاندې راتلل ، او بیا د پوچو عقائدو او اخلاقو په صورت کې خپل هیواد ته د ماسټرۍ او دوکتورا له اسنادو سره راتلل او بیا د اشغال لخوا د هغوی زیات قدر او هغوی ته د سترو دندو په اختیار کې ورکول .

چې دا ډول کسان د روسي اشغال پر مهال روس او کمونستي هیوادونو ته د تحصیل لپاره لیږل کیدل د الحادي عقیدې سره یو ځای د ډیپلوم ، ماسترۍ او دوکتورا له اسنادو سره خپل هیواد ته راتلل او دلته په معارف ، لوړو زده کړو او نورو مهمو پوستونو کې ځای پر ځای کول .

همداسې د اوسني امریکایي اشغال پر مهال هم د ځینې تحصیلي دورو همدا هدف دی .

مګر که دا کار د یوې مستقل اسلامي حکومت تر څارنې لاندې وي ان شاء الله منفي اثر نلري او د هیواد د پرمختګ لپاره مثبت ګام دی .

۶- په مسلمانانو کې د جهل او خرافاتو خپرول لکه : د ځینې بدعتي صوفیانو بدعتونه او خرافات ، په عاشورا او نورو مناسباتو کې د شعیه ګانو خرافات وهل او وینې بادول او داسې نور ډیر خرافات بدعات چې د هغو په وسیله ملحدین په دین باندې طعن کوي .

۷- د اسلامي امت د علماء غفلت ، په دعوت الی الله کې غفلت کول ، خصوصاً د صحي عقائدو په حصه کې غفلت کول او د معاصر کفر او الحاد د نشأت څخه بې خبري .

۸- د واحد اسلامي خلافت سقوط ، کله چې اسلامي امت له واحد اسلامي خلافت څخه محروم شو ، نو د مسلمانانو په مینځ کې الحادي دعوت پیل شو .

لومړی په ترکیه کې د مصطفی کمال په دوره کې او بیا په مصر کې پیل شو .

۹- د خواهشتاتو او راحت تابعداري کول .

رسائل محمد بن إبراهيم الحمد في العقيدة .صـ31: 29).

(خواطر في موضوع الاحاد / دوكتور هيثم الرومي ).

## د الحاد د خپراوي اثرات پر مسلمانانو او اسلامي ټولنه :

خبيث الحاد او سيکولرزم پر مسلمانانو او اسلامي ټولنه باندې زيات بد ديني او دينوي اثرات کوي چې ځينې يې په لاندې ډول دي :

١- د حکومت او د ژوند د ټولو حالاتو څخه د اسلامي شريعت (حکم بما أنزل الله) له مينځه تلل او د هغه پر ځای د کفري ساختګي قانون تحکيم .

٢- د اسلامي شريعت د قيام او بقاء لپاره د هر ډول هڅو او حرکت ځپل او بدنامول.

٣- په تعليمي نصاب او درسي موادو کې د الحادي ، سکولار او غربي ډيموکراسۍ د مطالبو ځای پر ځای کول او ددې لارې په نوي نسل کې د الحاد خپرول .

۴- د جهاد في سبيل الله له فرضيه څخه انکار کول .

۵- سمت پرستی ، ژب پرستی او قوم پرستی ته دعوت او د مسلمانان تر مينځ په هره ممکنه لاره اختلاف او تفرقې جوړول .

۶- د اسلامي دعوت پر وړاندې د جنګ اعلان .

هغه دعوت چې د دوی الحادي او کفري افکارو او عقائدو ته خطر وي .

٧- ارتداد او بې دينی ته په پوره اهتمام دعوت کول .

٨- په ټولنه کې د سکون او قلبي اطمنان له مينځه تلل :

[ وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى ] (طه: 124).

ژباړه : او چا چې زما له ياد څخه مخ واړاوه ، نو بې شکه چې د هغه ژوند به تنګ وي او مونږ به هغه د قيامت په ورځ ړوند را پاڅوو .

٩- په ټولنه کې د فساد او بد اخلاقي خپرول او په دې سره د کورني نظام او ټولنې پاشل او د عادلانه نظام او عادلانه اقتصاد له مينځه وړل .

١١- فردي ژوند :

د خپلوي ، د بل سره کومک ، شفقت او رحم ، مينه او علاقه ، د مشرانو احترام او پر کشرانو ترحم په کلي ډول له مينځه تلل ، حال دا چې اسلام په دې باره کې ډير تينګار کړی دی .

۱۲- يو د بل په سر ، مال او عزت تيری کول : د غرب د ټولنې او د دوی لخوا اشغال شويو هيوادونو حال له چا څخه پټ نه دی چې هلته روزمره څومره جرائم تر سره کيږي .

۱۳- خودکشي او ځان وژنه :

خودکشي او ځان وژنې ته ميلان چې دا د فقر او بې وسۍ په سبب نه بلکي د ټولو امکاناتو سره سره دوی قلبي اطمنان او سکون نلري نو ځکه د غم پر وړاندې صبر نلري او داسې کار ته لاس اچوي .

۱۴- د انتقام اخيستلو اراده : د ټولنې په وګړو کې زيات حسد او کينه او يو د بل څخه نفرت کول .

په هره ټولنه کې چې اسلامي نظام او شريعت حاکم نه وي د هغوی ژوند به د ليوانو په څير وي چې يو له بله په خوف او ويره کې وي ، امن او سکون به نه وي .

۱۵- الهي قهر او غضب .

(رسائل محمد بن إبراهيم الحمد في العقيدة : صـ33: 31).

( العلمانية وخطرها على المسلمين/ سليمان ابراهيم صيد الفوائد).

## د اسلام د غلبې لارې او تدابير:

مونږ مسلمانان يو، زمونږ دين بر حق دی، زمونږ رب الله (جل جلاله) قادر مطلق، مالک الملک إله واحد، او ذوالجود والکرم دی او يو دی، او زمونږ رسول خاتم النبيين سيد المرسلين دي، زمونږ تعليمات تل د انصاف، امن او سلامتی ضامن دي، د دغه دين حق دی چې پر نړی قيادت او سياست وکړي، متاسفانه مونږ يې قدر ونکړ نو له مسکنت او ذلت سره مخ شوو، اوس نو تللی عزت، کرامت، او غلبه بيرته څنګه راستنولای شو پر دې د غور کولو اړتيا ده.

۱- له ټولو وړاندې راته اړينه ده چې پخپل ايمان کې رسوخ ومومو، ځکه د قرآن اعلان دی [ و انتم الاعلون ان کنتم موٴمنين] (آل عمران:۱۳۹)

تاسو به سرلوړي یاست که مؤمنان وی، مؤمن چاته وایې؟ هغه چي په زړه او ځان يې اسلام منلی وي، پر دې عمل کوي، او پر دين اسلام باندي هر څه قربانوي، دغه کامل ايمان او دغه رښتيني مؤمن دی.

۲- په کتاب الله، د رسول صلی الله علیه وسلم په مبارکو سنتو پوری ټینګ لاسونه ونيسو، تر څو زمونږ هر قول، او هر عمل د قرآن او سنت د منشاء مطابق شي، حديث کي راځي «ان تمسکتم بهما لن تضلوا بعدی ابدا».

۳- تقوی، او هر وخت له الله (جل جلاله) څخه ډار ضرور دی، او له هر رنګ منکر او حرام څخه اجتناب ضرور دی، او هر فرض او سنت د خپل ژوند جزء ګرځول لازمي امر دی.
۴- اسلامي تعليمات په ښه او پورته توګه عام شي، مدارس دې بناء شي، او په مساجدو کي دې د ماشومانو تربیې ته خاصه پاملرنه وشي. هر امام د خپلې سيمې مسئول دی ، بايد خپل رعيت معاصرو بلاوو ، او فتنو ته متوجه کړي او د هغو په باره کې يې وویروي .

۵- د دعا التزام هم اړين دی، د خپل ځان لپاره د ټول امت لپاره، په ژړا ژړا بايد الله (جل جلاله) په دربار کي د رحمت او نصرت غوښتنه وکړي، په خاصه توګه دا دعا وکړي چي یا الله (جل جلاله) امت د منافقينو له شر څخه وژغورې، او پر منافقينو، او زنديقانو مو برلاسي کړې.

۶- له غفلته ويښيدل او بيدار اوسيدل ډير ضرور دي، ددښمن ځار او د هغوی له دسیسو مکر، او فريب څخه اګاه اوسيدل اړين دي، او پر خلاف يې د ځان ژغورولو د تدابيرو د ترتيب او ايجاد حتمي ضرور دي، [اللهم اجعل كيدهم فى تضليل].

۷- داسې وخت ډير ضرور له اسلامي معلوماتو واقف اوسيدل دي، لهذا دغه لور ته توجه ورکول د هر مسلمان دنده ده، تر څو عقائد، د حلال او حرام فرق وکړي،له علماؤ نه د خپلو مسائلو وضاحت وغواړي، او د خپلو بچيانو اسلامي تربيت وکړي.

۸- د غير اسلامي تلويزيون له بې رحمه مخ نه خپلې، او د خپلې کورنی سترګې واړوي، په فلمونو، لوبو، او فضولياتو خپل ارزښتمن وخت مه ضايع کوئ، او د الله (جل جلاله) لور ته متوجه شئ.
الله (جل جلاله) دې مونږ له هر رنګ شر څخه وژغوري، او د طاعت کولو توفيق دي راکړي، او ټوله امت دي د اسلام سره وتړي.آمين یا رب العالمين!

## د الحاد افکاراو عقائد :

١- ځينې د کائناتو د ستر څښتن الله سبحانه وتعالی څخه انکار کوي او ځينې بيا د الله تعالى د وجود څخه انکار نه کوي خو د دنيا په چارو د الله تعالى د اوامرو څخه په کلي توګه انکار کوي .

٢- کائينات ، انسان ، حيوان ، نبات او نور تصادفي پيدا شوي ګڼل او د مرګ څخه وروسته ژوندي کېدو څخه انکار.

٣- ماده ازلي او ابدي ګڼل چې په يو وخت کې د خالق او مخلوق دواړو صفت ورکوي .

۴- د انسان د شرافت څخه انکار کول او وايي چې انسان د مادې له ذراتو څخه دی او په هغه باندې د مادي ټول طبيعي قوانين جاري کيږي.

۵- د اخلاقو ، حق ، عدل ، ښېګڼې او روح څخه انکار کول.

مارکس د کمونست ګوند په اساسنامه کې ليکلي دي : مونږ د کورني نظام له مينځه وړل غواړو

لنن پخپله يوه وينا کې داسې ويلي وو : مونږ د حلالي او حرامي اولاد تر مينځ توپير له مينځه يوور .

او په معاصر الحاد او سيکوريزم کې هر ډول بد اخلاقي حتی لواطت او همچنس بازي ته رسمي بڼه ورکړ شوي ده .

داسې اقتصادي ازادي چې په هغه کې سود، قمار ، غرر ، ظلم ټول حلال دي.

۶- د دين څخه انکار چې ځينې په کلي ډول هيڅ آسماني دين نه مني او ځينې دين له دنيا څخه جلا کوي .

( الندوة العالمية للشباب الإسلامي)

## د الحاد د غلطو افکارو او اعتقاداتو رد :

الحاد يوازې په څو پوچو فرضيو او افکارو ولاړ دی کوم چې د عقل او علم خلاف دي لومړی تاسې ته دغه افکار او فرضيې او د هغو رد بيانوم :

## لومړی د «داروین) نظریه:

د الحاد د پوڅو او خیالي افکارو څخه یوه فرضیه دا ده چې انسان د شادي (بیزو) له نسل څخه ګڼي

ځینې کفار او ملحدین اوس هم د «داروین» په نظریه باندې اتکاء کوي او وایي چې د انسان اصل او نسب له بیزو (میمون ) څخه دی آیا دا خبره کوم اصل لري ؟

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

دا نظر د "داروین" په نوم د یو انګریز دی چې هیڅ اصل نلري.

دا نظر د اسلام خلاف دی ، د انسان اصل او جوړښت له اوبو او خاورې څخه دی.

الله سبحانه وتعالی فرمایي: [وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ] (المؤمنون: ١٢).

ژباړه: او یقیناً مونږ انسان د نچوړ شوي خټې نه جوړ کړ.

همدارنګه د قرآنکریم لاندې نص په دې باندې دلالت کوي چې ټول خاروي او مرغان ستاسې انسانانو په څیر جلا جلا امتونه او نسلونه دي ، لقوله سبحانه وتعالی: [وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الأَرْضِ وَلاَ طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلاَّ أُمَمٌ أَمْثَالُكُم .....] (الأنعام: ٣٨).

ژباړه :او نشته هیڅ په ځمکه خځېدونکی خاروی او نه الوتکونی مارغه چې پخپلو وزرونو الوځي مګر ټول سره امتونو (جلا جلا نسلونه ) دي.

همدارنګه پورته نظریه د اوسنیو علمي تحقیقاتو په وسیله رد شوې ده.
ترکي عالم هارون یحی دد‌ې احمقانه نظریې په رد کې کتاب لیکلی دی ، دا کتاب ښکته کړئ

د بریطانیا تیلګراپ په (٢٠٠٩) کال کې د سایسن د څو مشهورو دوکتورانو یوه څیړنه خپره کړې چې په هغه کې د (داروین) نظریه رد شوې او هغه یې غلطه ثابته کړې ده .

Charles Darwin's tree of life is 'wrong and misleading', claim scientists

نومړی مقاله په لاندې لینک کې ولولئ :

http://www.telegraph.co.uk/news/science/4312355/Charles-Darwins-tree-of-life-is-wrong-and-misleading-claim-scientists.html

او په 2010 کال کې د کاليفرنيا د "Louisiana"پوهنتون يوې ډلې په نوم د "Cognitive Evolution Group"چې د انسان او بيزو (ميمون) پر مغزو کې يې مطالعه کوله راپور ورکړ چې د انسان او بيزو په مغزو کې زيات تفاوت شتون لري.

سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم

## دوهم – د مادي د ازلي توب د نظريې رد

شرعي دلائل :

الله سبحانه وتعالى فرمايي : كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ * وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ (الرحمن:۲۶-۲۷)

ژباړه: هر هغه څوك چې په دې (ځمكې) باندې دي؛ فاني كېدونكي دي *او باقي به پاتې شي ستا د رب ذات چې د جلال او د عزت خاوند دى.

او موجوده كائينات به د الله تعالى په حكم تر يوه ټاكل شوي وخت پورې موجود وي .

او وروسته به موجوده هستي رنګه شي قيامت به قائم شي .

:[يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ] (الأنبياء:

.(104

ژباړه: (ياده كړه) هغه ورځ چې مونږ به اسمان راونغاړو په شان د كاغذ د رانغاړلو په ليكنې باندې.، لكه

څنګه چې مونږ د اول تخليق ابتدا كړې ده، مونږ د هغه بيا اعاده كوو، دا زمونږ په ذمه وعده ده،

بېشكه مونږ (ددې كار) كوونكي يو.

او فرمايي: [إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ * وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ * وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ] (التكوير:١-٢)

ژباړه: کله چې لمر ونغښتل شي ، او کله چې ستوري خړ شي ، او کله چې غرونه روان کړل شي.

**علمي دلائل :**

د ملحد عقل چې پر اټکل او اوهامو بناء دی وايي: ماده او کائينات او يا د مادې ذرات ازلي دي د الله سبحانه وتعالی له وجود څخه انکار کوي او د کائيناتو په خالق يې کفر کړی دی .

ماده څه وايي ؟

ماده هر هغه شي ته وايي چې کتله او حجم ولري او په فضاء کې ځای اشغال کړي لکه : مايعات ، جمادات او غازات .

ازلي څه ته وايي ؟

ازلي هغه شي ته وايي چې ابتداء او انتهاء ونلري ، ذاتي موجود وي او د بل په وجود پورې يې دوام او استقرآء نه وي او نه هم تغير وکړي .

چې دا صفت په ماده کې هيڅ وجود نلري ، ماده ابتداء او انتهاء لري ، تغير مومي .

کله چې نوي علم دا ثابته کړه چې کائينات مخلوق دی . ماده ، زمان ، مکان او طاقت ټولو لره ابتداء او انتهاء شته . ملحد بيا هم د کبر ، غرر او عناد له وجې پر خپل کفر ولاړ دی او عجيبه دا چې خپلو احمقانه فرضيو او خيالي اوهامو ته د علم او ساينس نوم ورکوي .

نوي علم ثابته کړي چې موجوده کائينات د خرابۍ او زوال په لوري روان دي .

د علم فلک د علماؤ عالمي سروې په نوم د (Galaxy and Mass Assembly survey) چې په هغه کې د امريکا «ناسا» مؤسسه ، د اوربا «هيرشيل» او د استراليا «انجلو » شامل وو او د دغه سروې رئيس «سيمون درايف» په دې خبره تأکيد وکړ چې کائينات د انتهاء او زوال په لوري روان دي .

او د ابتداء په اړه خو يې هغه بله ډله ملحدين چې مخکې مو ولوستل خپله ادعا کوي چې کائينات د يوې چاودنې په صورت مينځته راغلي .

نو اوسنیو علمي څېړنو او انکشافاتو په بار بار دا ثابته کړې ده چې ماده ابتداء او انتهاء لري او فاني کېدونکې ده ، مګر اوس مهال هم ځینې ملحدین د خپلو خیالاتو او اوهامو پیروي کوي خپل ځان تیرباسي او نورو هغو کسانو چې یقین او علم نلري د تیرایستلو کوښښ کوي.

و بالله توفیق

## دریم – د سترې چاودنې (Big bang) نظریه:

د لویې چاودنې (Big bang) نظریه لومړی په ۱۹ قرن کې بلژیکي کشیش «جرج لماتر» ، «اینشتاین» ، «جورج سموت» او «ادوین هایل» وړکړه چې موجوده کائینات لومړی د یوې کوچنۍ ذرې شکل لرلو چې ډیر متراکم وه ، دا مهال د حرارت درجه ډیره لوړه وه چې بلاخره یې انبساط وکړ او لویه چاونه رامینځته شوه او بیا ددې چاودنې څخه موجوده کائینات مینځته راغلل او دا چاونده ۱۳،۸ میلیارد کاله مخکې وه چې د هغې څخه کائنات سیارې او کهکشانونه وجود ته راغلل او د خپلې جاذبې قوې په وسیله دوران کوي .

که څه هم دغه نظریې د پخوانیو ملحدینو افکار چې ویل به یې ماده ازلي ده په کلي توګه رد کړه ، خو ځینو ملحدینو بیا هم د اوهامو پیروي کوي او وایي : کائینات د یو خالق پرته تصادفي پخپله پیدا شوي دي او د چاودنې څخه مخکې مکان او زمان نه وو .

**د رد دلائل :**

ځواب

بسم الله الرحمن الرحیم

په ځمکه او د هغې مربوطه فضاء کې چې الله تعالی څه پیدا کړي دي هغه یې د انسان لپاره مسخر کړي دي ، انسان ته یې د دغو شیان علم ، اختراع او د استعمال قدرت ورکړی دی ، اسلام ټول هغه شیان چې په مشاهده او تجربه او علم ثابت شوي دي د انسان مصلحت پکې وي تأکید کړي حتی د هغو د علم ، فکر او استعمال حکم یې ورکړی دی ځکه چې دا هر څه د انسان د استفادې کولو لپاره دي:

الله سبحانه وتعالی فرمایي:[أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً ..] (لقمان : ۲۰ ).

ژباړه:آیا نه وینې چې الله تعالی د آسمانانو او ځمکې ټول شیان تاسې ته تابع کړي او خپل ښکاره او پټ نعمتونه یې ټول پر تاسې تمام کړي دي.

او فرمایي: [أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنفُسِهِمْ مَا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلاَّ بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَاء رَبِّهِمْ لَكَافِرُونَ] (الروم :۸ ).

ژباړه : آیا فکر نه کوي دوی له ځانو سره چې الله آسمانونه او زمکه او څه چې د دوی په منځ کې دي له حق او ټاکلې نېټې پرته (په بله توګه) نه دي پیدا کړي او د خلکو ډېری د خپل رب له ملاقات انکار کوي.

مګر هر چې د کائیناتو احاطه او علم دی د انسان د قدرت څخه لوړ دی ځکه کله چې کائینات (ځمکه ، آسمانونه او نور  شیان پیدا کېدل انسان موجود نه وو .

[مَا أَشْهَدتُّهُمْ خَلْقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَا خَلْقَ أَنفُسِهِمْ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّينَ عَضُداً ] (الکهف:15).

 مونږ چې د لمر کومه سیاره پر سترګو وینو انسان نشي کولای هغه مشاهده کړي او حتی نشي کولای نږدې ورشي ځکه چې د زیات حرارت له کبله سوزي ، همداسې نورې سیارې او مخلوقات دي چې انسان هغه ته لاس رسی نلري ، انسان حتی د ځمکې د لاندې طبقو څخه خبر نه دی ځکه د جیولوژۍ د څېړنو له مخې د ځمکې لاندې ۲۰۰۰ مترۍ کې هر څه د میګما حالت لري.

پس د کائیناتو د پیدانښت په باره کې چې هر چا څه ویلې دي اټکل او نظر دی په مونږ پورې یې صحت او نه صحت هیڅ اړه نلري او نه هم مونږ د چا فرضیې ، اټل او ساینسي څېړنې او دلیل ته محتاج یو .

لله حمد و المنه مونږ په قرآنکریم ایمان لرو چې د الله سبحانه وتعالی له جانبه په جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوی او مونږ ته چې د کائیناتو او نورو غیبي امورو په باره کې د وحی (قرآن او سنتو) په ذریعه خبر را کړ شوی د قبول وړ دی .

او د بشر ټولو هغو علمي تحقیقاتو او څېړنو ته د قدر په سترګه ګورو کوم چې د علم پر بناء وي او د حق سره په ټکر کې نه وي .

مګر ملحدین د علم او دلیل پرته د اټکل او خیال پیروي کوي چې هیڅ سلیم عقل یې نشي منلای .

دا چې ملحدین وایي د کوم خالق پرته د لویې تصادفي چاونې په وسیله جهان مینځته راغلی او هر څه خپله پیدا شوي او خپله اداره کیږي هیڅ سلیم عقل ته د منلو وړ نه دي.

يوه وړه کتلوي نقطه او بيا د زيات حرارت په صورت کې په څو دقيقو او ثانيو کې انفجاز او بيا د کوم انتظام کوونکي پرته پخپله د لوېې هستۍ مينځته راتلل به کوم عقل قبول کړي ؟

د چاودنې لپاره د انرژي تأمين چا وکړ ؟ ګازات او حرارت چا پيدا کړل ؟

دا څرنګه تصافي انفجار وو چې د تخريب پر ځای يې يوه منظمه هستي مينځته راوړه چې هره سياره پخپل مدار حرکت کوي ، دا منظمه د جاذبې قوه له کومه شوه ؟ او جاذبې خاصيت چا ورکړ ؟ که د جاذبې پر ځای د فرار وای څه به کېدل ؟

دا څرنګه انفجار وو چې د کوم تنظيم کوونکي پرته يې هرې سيارې ته د خپل کتلوي جسم په برابر د جاذبې قوه تقسيم کړه ، د حرکت مدار او د حرکت سرعت يې ورته مشخص کړ ؟

دا څرنګه چاونده وه چې د کوم تنظيم کوونکي پرته ځينې سيارې داسې مينځته راغلي چې له ځانه روښنايي توليدوي لکه : لمر ،او ځينې سيارې داسې مينځته راغلي چې له ځانه شنه کول او زرغونول کوي لکه ځمکه.

هرې سيارې ته ځانګړې دنده سپارل شوې او په منظم ډول خپله دنده تر سره کوي .

دا د هستۍ د ستر خالق (جل جلاله) کار دی او بس .

د ملحد عقل د خيالاتو او اوهامو ځاله ده چې د خپلو باطلو افکارو لپاره نه کوم دليل او نه هم علم لري بلکې د خيال او وهم پيروي کوي .

په تاريخ د 2014 د ديسمبر 25 امريکايي مجلې «Wall Street Journal» د «Eric Metaxas» په سرپرستۍ يو علمي ساينسي څېړنيز مقاله چې عنوان يې:

« Science Increasingly Makes the Case for God»

نشر کړه چې په هغه کې د الله تعالی وجود په علمي او ساينسي دلائل ثابت او د ملحدينو اوهام او افکار يې رد کړي دي .

پروفيسور فرير هويل «prof. Fred Hoyle » وايي : هر انفجار له ځانه سره تخريب لري مګر دا څرنګه افجار وو چې بر عکس يوه منظمه هستي يې مينځته راوړي ده ؟، نو دا به معجزه وي.

د کاناډا د مک ګیل پوهنتون د علم نجوم استاذ «رابرت براندنبرګر» ویلي : ددې جملې حق نه لرو چې ووایو : موجوده جهان له یوې تصادفي چاودنې څخه را مینځته شوی دی ( دا نظریه د عقل او علم خلاف ده ).

لا حول و لا قوة الا بالله العلى العظيم

**ستره چاودنه د قرآن له نظره :**

**اول:**

الله سبحانه وتعالی د مثال پرته د عدم څخه د شي په پیدا کولو قادر دی .

بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِذَا قَضَى أَمْراً فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ (البقره :١١٧ ) .

ژباړه: بې له نمونې پیدا کونکی د اسمانونو او ځمکې دی، او کله چې د کوم کار فیصله وکړي، نو همدا خبره ده چې هغه ته ووايي: ”وشه“ نو هغه وشي.

دا چې هغوی وایي د پیدابښت یا لویې چاودنې(Big bang) مخکې مکان او وخت او بل څه نه وو ، هیڅ اصل نلري.

د ځمکې او آسمان د پیدابښت مخکې وخت وو ، لقوله سبحانه وتعالی: [ وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ] او مکان هم وو ځکه د ځمکې او آسمان د پیدابښت مخکې اوبه موجودې وې .

الله سبحانه وتعالی فرمایي: وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاء لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً (هود:٧) .

ژباړه: او دی هماغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، په دې حال کې چې د هغه عرش په اوبو باندې وو، د دې لپاره چې هغه تاسو وازمایي چې په تاسو کې د عمل په لحاظ څوك ډېر ښه دی.

همدارنګه په حدیث شریف کې راغلي : « كَانَ اللَّهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ غَيْرُهُ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ وَكَتَبَ فِي الذِّكْرِ كُلَّ شَيْءٍ وَخَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ» (رواه البخاري ).

ژباړه : الله موجود وو او د هغه پرته هيڅ شی نه وو ، او د الله تعالی عرش د اوبو پر سر وو ، او د ټولو کائيناتو تقدير يې په لوح محفوظ کې وليکلو او بيا يې آسمانونه او ځمکې پيدا کړل.

د عرش څخه مراد د الله تعالی واک او پاچاهي ده .

**دوهم :**

ځمکه او آسمانونه يو ځای وو او بيا الله تعالی پخپل قدرت سره جلا کړل.

لقوله سبحانه وتعالی: [ أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاء كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلاَ يُؤْمِنُونَ] (الأنبياء : ٣٠ ).

ژباړه : آيا نه دی ليدلي هغه کسان چې کافران دي چې يقيناً آسمانونه او ځمکې دواړه سره نښتي وو نو بيل کړل مونږ دوی دواړه او پيدا کړي دي مونږ له اوبو څخه هر شی ژوندی ، نو آيا دوی ايمان نه راوړي ؟

»فتق» په معنی د بيلوالی دي نه په معنی د چاودني او انفجار .

د «رتق ، فتق ) بله معنی مفسرينو دا ښودلي ده چې : لومړی آسمان او ځمکه بند وو او وروسته الله تعالی پخپل قدرت سره خلاص او پرانستل يعني : باران شروع شو او ځمکې زرغونول پيل کړل.

متأسيفانه پورته نظريه ځينې مسلمانو علماؤ د حسن نيت له مخې د قرآن د اعجاز په توګه ذکر کړې ده ، مګر د هغه تر شا يې باطلو افکارو او له شرعي نصوصو سره ښکار ټکر ته فکر نه دی شوی.

**دريم :**

هغوی په دې عقيده دي چې آسمان وجود نلري بلکې همداسې يوه خالي فضاء ده ، دا خبره هيڅ اصل نلري ، لقوله سبحانه وتعالی: [ أَفَلَمْ يَنظُرُوا إِلَى السَّمَاء فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَاهَا وَزَيَّنَّاهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ] (سوره ق :۶ ).

ژباړه: آيا پاس آسمان ته نه دي کتلي هغوی چې مونږ څرنګه جوړ کړی او څه رنګه مو ښايسته کړی او هيڅ سوری او چاود پکې نشته.

**ځلورم :**

هغوی وايي چې دا چاودنه په څو ثانيو کې رامينځته شو مګر مونږ ته اسلام د وحی په وسيله خبر راکوي چې آسمانونه او ځمکې په شپږو ورځو پيدا شوي ، داسې ورځ چې د دنيا له زرو کلونو سره مساوي ده .لقوله سبحانه وتعالى : [إِنَّ رَبَّكُمُ اللّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ] (الأنعام :۵۴ ).

ژباړه : يقيناً ستاسې پالونکی الله دی هغه چې آسمانونه او ځمکې يې په شپږو ورځو کې پيدا کړې دي.

سبحان الله و بحمده سبحان الله العظيم

**رد الحاد اود الله تعالى پر وجود دلائل**

**اول – قرآني دلائل :**

**اول- د رد الحاد قرآني منهج او طريقه**

قرآنکريم په څو مختصرو ټکو کې د دهرينو ماده پرستو ملحدينو افکار او عقائد بيان کړي چې هغوی يخپلو افکارو کې هيڅ علم او دليل نلري بلکې يو اټکل ، وهم او خيال دی چې خپل ځانونه ورباندې تيرباسي او د نورو د تيرايستلو او ګمراهۍ کوښښ کوي.

الله سبحانه وتعالى فرمايي: [ وَقَالُوا مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ وَمَا لَهُمْ بِذَلِكَ مِنْ عِلْمٍ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ] (الجاثية: 24).

ژباړه: او هغوی وايي چې ژوند همدغه د دنيا ژوند دی چې همدلته مره کيږو او پيدا کيږي او دا زمانه ده چې مونږ هلاکوي ، په دې برخه کې هيڅ پوهه او علم ور سره نشته .بس د اټکل له مخې هر څه وايي.

الله عز و جل فرمايي : [ أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ] (الطور :۳۵ ) .

ژباړه : آيا يخپل سر خپله پيدا شوي دي او که يخپله پيدا کوونکي دي .

**دوهم**- ای ملحدينو! تاسې چې د کائيناتو پيدايښت تصادفي ګڼئ ، دا څنګه تصادف دی چې يوه ورځ ځمکه له لمر سره ټکر نشوه ؟ يوه ورځ د شپې پر ځای ورځ را نغله ؟ يو ورځ لمر له خپل مدار څخه بهر نشو . آيا ستاسې په نزد تصادف يوازې په پيداښت کې دی او که په نظم او تغيراتو کې هم شته؟

بلکي دا د الله تعالی نظام دی چې په خپل کامل قدرت يې تنظيموي نو ايا د الله پرته بل څوک شته چې دا کار تر سره کړي ؟ نه

څوک شته چې په شپه يا ورځ کې تغير راولي ، بادونه جاري کړي او حتی داسې څوک شته چې د باد جهت ته تغير ورکړي ؟ نه

الله سبحانه وتعالی: [تُولِجُ اللَّيْلَ فِي الْنَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ المَيَّتَ مِنَ الْحَيِّ وَتَرْزُقُ مَن تَشَاء بِغَيْرِ حِسَابٍ] (آل عمران :۲۷).

ژباړه: ته شپه په ورځ کې ننه باسي (شپه په ورځ بدلوې) او ته ژوندی له مړي را وباسې او مړی له ژوندي او چې چا ته دې خوښه شي بې حسابه رزق ورکوې.

او که د الله تعالی پرته بل قدرت او بل إله شتون لرلای ؟ نو د کائيناتو په نظم کې به خامخا خلل راغلی وو.

لقوله سبحانه وتعالی: [لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ] (الانبياء ۲۲ ).

ژباړه:کچېرې په ځمکه او آسمان کې پرته له الله نور خدايان وای نو د دواړو نظام به کډوډ شوی ؤ د عرش څښتن له هغه څه نه پاک دی چې مشرکان يې وايي.

**دريم**- ای ملحدينو ! دا چې تاسې واياست هر څه تصادفي پيدا شوي دي ، قرآنکريم د امي پيغمبر په وسيله په داسې يو زمانه کې چې هيڅ وسائل نه وو خبر ورکوي چې انسان د مور په رحم کې څلور مرحلې طی کوي خو ساينس يې ډير وروسته کشفوي.

آيا دا تصادف دی؟ مخکې له دې چې انسان دنيا ته راشي د مور په رحم کې څلور مرحلې طی کوي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي :

قال الله تعالی :[ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ...] (الحج: 5).

ژباړه: ای خلقو! که تاسو د بیا راژوندي کېدو په باره کې په شك کې يئ، نو يقينًا مونږ تاسو له خاورې نه پيدا کړې يئ، (ستاسو نيکه ادم) بيا (مو د هغه اولاده پيدا کړه) له يو څاڅکي (مني) نه، بيا له پرنې وينې نه، بيا له يوې غوښې بوټۍ نه تام الخلقت وي او ناقص الخلقت وي.

**څلورم**- ای د عقل خاوندانو ! ای هغو کسانو چې د حق تعالی د وجود څخه انکار کوئ او د پلمې په توګه په ساينس او علمي انکشافاتو تکيه کوئ .

نوي علم او ساينس دا ثابته کړې ده چې جنين د مور په رحم کې په دريو پردو کې پوښل شوی وي چې دا پردې په سترګو داسې څرګنديږي لکه يو پرده ، دا پردې د (منياري ،خوربون او فايضي ) په نوم ياديږي .

قرآنکريم د امی پيغمبر په وسيله داسې خبر ورکړی دی :

قال سبحانه :[ يَخْلُقُكُمْ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ خَلْقًا مِنْ بَعْدِ خَلْقٍ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ] (الزمر: 6).

ژباړه: هغه تاسو د خپلو ميندو په خيټو کې پيدا کوي، يو قسم پيدا کول، وروسته له بل قسم پيدا کولو نه، په دريو تيارو کې، دغه الله ستاسو رب دی، بادشاهي خاص د هغه لپاره ده.

همدارنګه قرآنکريم د امي پيغمبر په ژبه د بحر له تلې څخه خبر ورکوي چې :

[وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَحْجُورًا] (الفرقان ٥٣ ).

ژباړه : او الله همغه ذات دی چې دوه دريابونه يې سره يو ځای کړي دا يو ډير خوږ او تنده ماتوونکی ، او دا بل ښه تريو مالګين دی او بيا يې د دواړو په مينځ کې پرده پيدا کړې ښه منع کړ شوې.

قرآن کريم د بحر د تلې څخه خبر په داسې يو عصر کې ورکوي چې هغه وخت د کشف او مشاهدې هيڅ وسائل نه وو ، چې دا د قرآن اعجاز دی او د قرآن منکرينو ته ستر پيغام دی چې دا کتاب د رب العالمين لخوا نازل شوی چې د خپل مخلوق له هرې برخې او حالت څخه خبر او عالم دی.

مګر بشر د ١٨ قرن په آخر کې د بحرنو د جلاوالی مسئله کشف کړه.

**پنځم**- ای د حق تعالی څخه منکرینو ! نوي علم او ساینس دا ثابته کړې ده چې د انسانانو ګوتې یو شان نه دي بلکي د هر انسان د ګوتې نښې او جوړښت جلا جلا دی چې یو له بله فرق لري ، په ملیاردونو انسانان دي خو د ګوتې نښې يې يو له بله فرق لري او يو شان نه دي .

آیا دا هم تصادف دی ؟ او که دا د ستر خالق (جل جلاله ) کار دی چې هر انسان يې په جلا قواره ، جلا غږ او جلا نښو پیدا کړی دی او د هر انسان د اعمالو لپاره يې دفتر جلا کړی دی .

الله سبحانه وتعالی د خپل قدرت د نښو یادونه کوي ::[ بَلَى قَادِرِينَ عَلَى أَنْ نُسَوِّيَ بَنَانَهُ ] (القيامة: 4).

ژباړه: ولې نه! (جمع به يې کړو)، په داسې حال کې چې مونږ په دې قادر یو چې د ده (هډوکي او) د ګوتو بندونه (هم) برابر کړو.

**شپږم**- ای ملحدینو ! تاسې چې د خالق له وجود څخه انکار کوئ او په خپلو اوهامو تکيه کوئ او وایئ چې هر څه د طبیعت تابع دي او تصادفي پيدا شوي دي ؟ نو ای د عقل خاوندانو ! د شاتو د مچيو د ژوند له نظم او تنظيم څخه هيڅوک انکار نشي کولای ، دغو مچيو ته چا د ژوند نظم وښولو .

[وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ، ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلاً يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاء لِلنَّاسِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ] (النحل :۶۷-۶۸ ).

ژباړه : او ستا رب د شاتو د مچې په زړه کې ور واچوله چې په غرونو، ونو او هغو لوړو او دنګو ځایونو کې ځانونو ته ځالې جوړې کړئ ، بیا هر ډول میوې وخورئ او په هغو لیارو والوزئ چې خپل رب درته آسانه کړې دي ، د هغو له ګیډو نه په مختلفو رنګونو شربت راوځي چې په هغه کې د خلکو لپاره شفاء ده . په رښتيا چې د فکر کوونکي قوم لپاره په دې کې لويه نښه او دليل دی.

**اوم**- یو ځمکه چې له زېړې ، خړې او سور رنګ خاورې او یو قسم معدني موادو ترکيب او يو قسم اوبه چې له (اوکسجن او هايروجن) څخه ترکيب شوې مګر رنګ رارنګ نباتات او رنګ رارنګ ميوې زرغونوي

آیا دا هم تصادف دی ؟

[هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لَكُمْ مِنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ *يُنْبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالْأَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ] (النحل: 10، 11).

ژباړه: او دی هغه ذات دئ چې له پاسه ئې اوبه نازلې کړې، چې یوه برخه ئې ستاسو څښاك او یوه برخه ئې وني او بوټي دي چې تاسو (څاروي پیه کې) څروئ، په همدې سره تاسو ته نباتات، زیتون، د خرما وني، او انګوراو د میوو ډول ډول راشنه کوي، یقیناً چې په دې کې خامخا لویه نښه ده د هغو خلقو لپاره چې ښه غور او فکر کوي .

**آتم**- او په خپل ځان کې فکر نه کوئ : [ وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ] (الذاريات: 21).

ژوند او مرګ د څه لپاره ؟ ولی ژوند شوې ؟ او ولې مرې؟ او د خپل بدن جوښت ته دې نظر نه کوی ؟ چې یو طبیب په هغه کې شپږ یا دولس کاله تحصیل او زده کړې کوي ، هغه هم په یو برخه د بدن کې .

پس له عقل او فکر څخه کار واخله توبه وباسه د خپل خالق له بغاوت څخه لاس واخله .

مونږ چې دغه هڅې کوو ددې لپاره چې مونږ او نورو د دوزخ له اور څخه نجات ومومو بل هیڅ هدف نلرو ، هیڅ متاع مو هدف نه ده زمونږ اجر پر الله تعالی دی او په هغه مو توکل کړی دی د چا د آفرین او رد هیڅ پروا نلرو .

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ

و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه والتابعين لهم بإحسان إلى يوم الدين

## دوهم– رد الحاد عقلي دلائل

**د امام ابی حنیفه رحمه الله دلیل :**

یو ملحد د ابو حنیفه رحمه الله څخه د الله تعالی د وجود او خلقت دلیل و غوښتلو ، ابو حنیفه رحمه الله ملحد ته وویل : مخکې له دې چې مسئلې ته ور داخل شو ته ما ته ووایه چې:

یو کښتی ( چې د هغې تختې خود به خود له ونو څخه جلا کیږي او یخپله کښتی ورڅخه جوړیږي او بیا خپله باریږي ) په وسائلو بار بېړی د کوم چلوونکي پرته د دریاب په سختو موجونو کې حرکت کوي او په سمه توګه خپل مقصد ته رسیږي ( او یخپله خالي کیږي او بیرته ځي ).

د الله تعالی د وجود څخه منکر (ملحد) ووېل : داسې کېدل نا ممکن دي او دا هيڅ عاقل نشي منلای ، ابو حنيفه ووېل : افسوس ستا په حال ، ته چې دا مني چې يو کوچنۍ کښتۍ د کښتۍ چلوونکې پرته حرکت نشي کولای نو څنګه د ځمکې او آسمانونو موجودات چې د حکمت څخه ډک دي پيدا کوونکی او اداره کوونکی نلري ؟ ايا ددې ستر جهان موجوديت د الله تعالی پرته څنګه ممکن وي ؟

ملحد سکوت او بې ځوابه شو ، حق ته تسليم شو او د امام په وسيله يې ايمان راوړ.

(مناقب ابی حنيفه للمکي ، شرح العقيده الطحاوية ).

**دليل امام مالک رحمه الله :**

د امام مالک څخه چا د الله تعالی د وجود دليل وغوښتلو هغه په ځواب کې ووېل : د ژبو او غږونو اختلاف .

و ګورئ په نړۍ کې څومره ژبې دي او څومره انسانان ؟ خو په ژبو کې يې فرق دی . او د هر انسان غږ د بل انسان د غږ سره فرق لري .

(تفسير الرازي ج2 ص334)، (معارج القبول لحافظ حکمي ج1ص78).

**دليل امام شافعي رحمه الله :**

د شافعي څخه ځينو ملحدينو پوښتنه وکړه چې ته څه دليل لري چې د مخلوق پيدا کوونکی الله تعالی دی ؟

شافعي ووېل : تاسې دا قبلوئ چې د توت د پاڼې رنګ ، بوی او خوند يو شان دی ؟ هغوی ووېل : هو

شافعي ورته ووېل : پس دا د توت پاڼې چنچۍ خوري وريښم ورڅخه وځي او د شاتو مچۍ يې خوري شات ورڅخه وځي او پسه يې خوري پچې ورڅخه وځي نو دغو شيانو ته دا خاصيت چا ورکړی حال دا چې يوه ګياه ده؟ نو هغوی قبوله کړه او د هغه په لاس يې ايمان راوړ او د هغوی شمير (۱۷) کسان وو .

؛ (تفسير الرازي ج2 ص333)، (معارج القبول لحافظ حکمي ج1 ص78).

**دليل امام احمد رحمه الله :**

د احمد څخه چا د الله تعالى د وجود په باره کې پوښتنه وکړه هغه ورته وويل : د هګۍ څخه د چرګوړي وتل چې نه کومه لاره لري او نه هم دروازه ، د ننه خوا څخه يې پر خپله موښوکه سوروي يو ليدونکى او اورېدونکى او د ښکلي صورت حيوان ورڅخه وځي .

(معارج القبول لحافظ حكمي ج1ص78).

**د ملحد د عقل تول :**

د حق څخه د ملحد د عقل او انکار مثال داسې دى لکه چې په لاره يو کس تېر شوى وي او د قدمونه نښې يې موجودې وي نو دا نښې د انسان په تربدو دلالت کوي خو ملحد وايي زه دا نښې نه منم ځکه ما په دغه لاره د انسان تربدل نه دي ليدلي . يا په غره باندې ډېر مخکې باران شوى وي او لمد وي چې لمدېدل د باران نښه ده خو ملحد وايي نه لمدېدل نه منم ځکه ما باران نه دى ليدلى.

د الله تعالى د وجود څخه د دوى انکار همداسې دي چې د الله تعالى د قدرت د ټولو نښو او اثارو څخه انکار کوي.

اى ملحده !

آيا ته خپل عقل وينې ؟ پخپل بدن کې دې روح وينې ؟

نو کله چې ته د الله تعالى روح نشي ليدلاى نو الله تعالى به څنګه ووينې .

ته د لمر د مشاهدې کولو حتى هغه ته د نږدې کېدلو توان نلرې نو د سترې هستۍ د څښتن د لېدلو توان به څنګه ولرې ؟

## آيا سپوږمۍ له ځانه نور لري ؟

پوښتنه :اسلام عليکم ورحمة الله .يو ملحد پخپله پاڼه کې ليکلي دي چې په قرآن راغلی: [تَبَارَكَ الَّذِى جَعَلَ فِي السَّمَآءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرٰجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا] (سُوۡرَةُ الفُرقان).

په پورته آيت کې راغلي چې سپوږمۍ رڼا لري حال دا چې سپوږمۍ رڼا نلري هغه له لمر څخه رڼا انعکاس کوي.

ځواب:

بسم الله الرحمن الرحيم

[تبارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاء بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا] ( فرقان:۶۱).

[هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاء وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُواْ عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ] (يونس:۵).

د (سِرَاجًا ، ضِيَاء) معنی دا ده چې له ځانه نور ولري او د (مُّنِيرًا ،نُورًا) معنی دا ده چې خپله نور نلري بلکې د لمر څخه نور اخلي.

دې مطلب ته قرآنکريم سوونه کاله مخکې اشاره کړې ، مفسرينو سوونه کاله مخکې د هغه معنی او تفسير کړی مګر بشر ډير وروسته دا مسئله کشف کړه.

وقال البيضاوي: «وقيل ما بالذات ضوء وما العرض نور، وقد نبه سبحانه وتعالى بذلك على أنه خلق الشمس نيرة في ذاتها والقمر نيراً بعرض مقابلة الشمس والاكتساب منها» ( تفسير البيضاوي 1/ 185).

يعنې : يو پخپل ذات کې روښنايي ده او بل عرضي يا بل پورې تړلې رڼا ده ، او يقيناً الله سبحانه تعالی دا بيان کړی چې هغه لمر پيدا کړی چې له ځانه رڼا لري او د لمر په مقابل کې يې سپوږمۍ پيدا کړی چې له لمر څخه رڼا اخلي او هغه ته انعکاس ورکوي.

النور، والضياء هو ما كان بالذات، والنور ما كان بالعرض.

وقال الشوكاني: «قيل: الضياء أقوى من النور، وقيل: الضياء هو ما كان بالذات، والنور ما كان بالعرض؛ ومن هنا قال الحكماء: إن نور القمر مستفاد من ضوء الشمس»

أنظر الكشاف للزمخشري 1/ 512، وتفسير أبي السعود 4/ 120، وتفسير النسفي 2/ 118، وتفسير البيضاوي 1/ 185، وفتح القدير للشوكاني 2/ 615، وروح المعاني للألوسي 1/ 166، والبحر المديد 2/ 471.

ددې څخه څوک انكار نشي كولاى چې سپوږمۍ رڼا لري ، ټول يې په ستركو ويني چې په تياره شپه كې سپوږمۍ ځليږي او ځمكې ته يې رڼا رسيږي دا چې دا رڼا يې ذاتي او كه عارضي ده ؟ بيله خبره ده.

دا موضوع مو بيان كړه چې د سپوږمۍ رڼا عارضي ده له لمر څخه يې اخيستي.

او د ( البروج) څخه مطلب ستورې دي او يا هم د ځمكې او لمر پرته نورې سيارې دي.

فالبروج : قال ابن عباس ومجاهد والضحاك والحسن وقتادة والسدي : البروج : النجوم.

"تفسير ابن كثير" (8 / 363).

و ما توفيقي الا بالله عليه توكلت و اليه انيب

## الله تعالى د زرق سره اسباب هم نازل كړي دي :

د دغه پاڼې درنو چلوونكو اسلام عليكم ورحمة الله وبركاتو له يوه ملحد سره مخامخ شوم چې ويل يې:

الله تعالى د مخلوقاتو د رزق رسونه په خپله ذمه اخېستې ده بيا ولې خلک له لوږې مره كيږي

كه مو په دې اړه قناعت بخشه ځواب راكړل ډېره مهرباني به موي.

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

هو، الله سبحانه وتعالى د ټولو ساه كښو رزق وركوونكى دى ، داسې چې د رزق سره يې د رزق اسباب هم نازل كړي دي.

ځمكه يې په باران زرغونه كړې ده او هر ساه كښ ته يې د خپل رزق د حاصلولو لپاره اسباب وركړي دي لكه: لاسونه ، پښې ، موښوكه او نور تر څو په ځمكه وګرځي كار او سعې وكړي او خپل ځان ته رزق برابر كړي.

لقوله سبحانه وتعالى : [هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ ذَلُولاً فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ] (الملك: ١٥).

ژباړه : (الله هغه ذات دی چې : ځمکه يې ستاسې په واک درکړې ده ، نو په کونجونو او څنډو کې يې وګرځئ او د الله روزي وخورئ او بيرته همغه ته مو ورتګ دی).

واضح شوه چې د ګرځيدو ، حرکت ، سعی او کار کولو حکم يې کړی دی ځکه هر ساه کښ ته اسباب ورکړ شوی دي ، او څوک چې اسبابو ته لاس رسی نلري ، مريض او معيوب وي نو په اسلام کې يې نفقه ورکول په خپلوانو فرض دي.

الله سبحانه وتعالى د باران په وورولو او د ځمکې په زرغونولو بنده ګانو ته رزق ورکړی دی.

[الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ] (البقرة: ٢١، ٢٢).

ژباړه: (هغه ذات چې ستاسو لپاره يې ځمکه وغوړوله ، آسمان يې چت جوړ کړ او له پاسه يې اوبه را ښکته کړې ، په اوبو سره يې ستاسې د خوراک لپاره ډول ډول ميوې را وښکلې . نو بايد تاسې هم له الله پاک سره نور څيزونه برخه من ونه ګرځوئ).

مګر الله سبحانه وتعالى د رزق په ورکولو کې پوره اختيار لري ، چا ته چې وغواړي د اسبابو پرته رزق ورکوي (لکه مريم رضی الله عنها ته ).

او چا ته چې وغواړي رزق وربندي بندوي.

لقوله سبحانه وتعالى : [أَمَّنْ هَذَا الَّذِي يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُ] (الملک) ، [وَتَرْزُقُ مَن تَشَاء بِغَيْرِ حِسَابٍ] (آل عمران ).

و ما توفيقي الا بالله عليه توکلت و اليه انيب

## لمريه ځمکه کې د طلوع او غروب محلونه لري ؟

دغه پاڼې درنو چلوونکو اسلام عليکم ورحمة الله وبرکاتو له يوه ملحد سره مخامخ شوم چې هغه لاندې موضوع باندې بحث کړی وو.

لمر په ځمکه کې د طلوع او غروب محلونه لري (کهف ۸۳-۹۰) همدارنګه حدیث( د کشاف تفسیر ۲/۶۹۴).

که ددې ځواب راکړئ مهرباني به مو وي.

ځواب

بسم الله الرحمن الرحیم

الله سبحانه وتعالی فرمایي :حَتَّى إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ )الکهف :۸۶ ).

الله سبحانه وتعالی د یو صالح بنده (ذوالقرنین) یادونه کوي چې : هغه د لودیځ په لورې سفر کولو تر دې چې ورسید ځای د پرېوتو د لمر ته نو ذوالقرنین وموند دغه لمر چې ډوبیدو په لویه چینه یا سیند کې چې له تورو ختو ډک وو ، یعنې داسې یې په نظر راغی چې لمر په همدې صحراء یا سیند کې ډوبیږي.

لکه څنګه چې په سمندر کې سفر کوونکي ته هم ښکاري چې لمر له اوبو وځي او په اوبو کې ډوبیږي ، او یا ځینې خلک په ښار کې د حساب معلومولو لپاره د لمر ډوبیدو ځایونه په نښه کوي او داسې څرګندیږي چې لمر د غره شاه ته ډوبیږي حال دا چې اصلاً داسې نه وي.

یعنې ذوالقرنین داسې ګمان وکړ چې لمر همدلته ډوبیږي نو داسې شوق ورسره پیدا شو چې وګوري د دنیا ودانۍ تر کومه ځایه پورې اوږه شوی ده . خو د الله تعالی د ملک حدود یې معلوم نشو کړای.

او دا چې ځینې قصصو واله او قیصه جوړونکي وایي چې لمر په همدې چینه او همدې ځای کې ډوبیږي هیڅ اصل او حقیقت نلري دا اهل کتابو خرافات او د زنادقو درواغ دي چې هیڅ اصل نلري.

او په دې باندې د ټولو مفسرینو اتفاق دی.

جاء في تفسیر ابن کثیر:

وقوله :[ حَتَّى إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ ] أي: فسلك طريقًا حتى وصل إلى أقصى ما يسلك فيه من الأرض من ناحية المغرب، وهو مغرب الأرض. وأما الوصول إلى مغرب الشمس من السماء فمتعذر، وما يذكره أصحاب القصص والأخبار من أنه سار في الأرض مدّة والشمس تغرب من ورائه فشيء لا حقيقة له.

وأكثر ذلك من خرافات أهل الكتاب، واختلاق ، زنادقتهم وكذبهم.

وقوله :[ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ ] أي: رأى الشمس في منظره تغرب في البحر المحيط، وهذا شأن كل من انتهى إلى ساحله، يراها كأنها تغرب فيه، وهي لا تفارق الفلك الرابع الذي هي مثبتة فيه لا تفارقه (تفسير ابن كثير).

جاء في تفسير القرطبي:

فوجدها في رأي العين تغرب في عين حمئة، كما أنا نشاهدها في الأرض الملساء كأنها تدخل في الأرض.

و ما توفيقي الا بالله عليه توكلت و اليه انيب

## د يو سړي په نسبت د دوو ښځو ګواهي حق که مسئوليت ؟

السلام عليکم ، يو غير مسلم ليکي دي چي اسلام نارينه او ښځو ته مساوي حقوق نه دي ورکړي د البقره سورت دغه آيت (فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ) اشاره کوي چې ولې يو نارينه له دوو ښځو سره مساوي شوی دی.

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

نوموړی په اشتباه کې دی ځکه د حقوقو او مسئوليت تر مينځ يې فرق نه دی کړی.

شهادت او ګواهي ادا کول حق نه دی بلکي يو درووند مسئوليت او کار دی چې اسلامي شريعت د نارينه په نسبت د ښځې لپاره تخفيف پکې کړی دی . او دا ګواهي د معاملاتو په باره کې ده.

الله سبحانه وتعالى فرمايي:

[وَاسْتَشْهِدُواْ شَهِيدَيْنِ من رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاء أَن تَضِلَّ إْحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَى] (البقرة :٢٨٢).

ژباړه : او تاسو له خپلو (مسلمانانو) سړيو نه دوه ګواهان ګواه ونيسئ.، نو که دوه سړي ګواهان نه وي، نو يو سړی او دوه ښځې (دې ګواه شي) له هغو ګواهانو څخه چې تاسو يې خوښَوئ، د دې لپاره چې که په دواړو کې له يوې نه هېر شي؛ نو په دوی کې يوه به يې بلې ته وریاد کړ.

په ګواهي کې د نارينه په نسبت د دوو ښځو تاکلو حکمت

١ -په ګواهۍ کې محکمې ته تلل او حاضرېدلو ته ضرورت وي چې د يوې ښځې پر ځای دوې ښځې مناسبې دي.

٢ -په معاملاتو او بيروني دروندو کارونو کې ښځې نابلده وي نو ځکه د هيرېدو امکان موجود وي که له يوې ښځه هيره شي هغه بله يې ورياد کړي.

٣ -ګواهۍ او شهادت ادا کول يو داسې مسئوليت دی چې د دوښمنۍ پيښېدو امکان هم پکې شته نو په دې صورت کې د يوې ښځې پر ځای دوې ښځې مناسبې دي.

و ما توفيقي الا بالله عليه توکلت و اليه انيب

## د آسمان په باره کې د يوې شبهې ځواب :

پوښتنه: اسلام عليکم ورحمت الله وبرکاتو له زما نوم احمد ضياء دی له يوه ملحد سره مخامخ شوی يم چه په لاندې مو ضوع کې يې بحث کړې دی که مو په دې اړه قناعت بخشه ځواب راکړل ډېره مهرباني به مو وي .

داوو اسمانونو موجوديت چه د قران په (طلاق ١٢،ملک٣،الانبيا٣٢)ايت ثابت دی * ساينس د اسمان په نوم څه شي نه پيژني

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

د شک پرته اووه آسمانونه موجود دي ، د دنيا آسمان د ځمکې د پاره د چت حثيت لري د يو قسم سماوي مادي څخه جوړ شوي او په ستورو ښايسته شوی دی.

الله سبحانه وتعالی فرمايي :[وَجَعَلْنَا السَّمَاء سَقْفًا مَّحْفُوظًا] (الأنبياء:32).

ژباړه : او ګرځولی دی مونږ آسمان چت ساتل شوی.

او فرمايي: [الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشاً وَالسَّمَاء بِنَاء] (البقرة:٢٢).

اصل دا دی چې د موجوده کائيناتو په اړه د بشر علم او احاطه تول اټکلي او فرضي دي ځکه بشر چې د کون او کائيناتو په اړه لږ اندازه معلومات وړاندې کړي دي د فلکي دوربين (تلسکوپ) او يا فضايي

راکټ په وسیله دي ، د فضايي راکټ سرعت تقریباً (3000 m/h) میله په یو ساعت کې چې تقریباً په (8.5) دقیقو کې (104) ټنه د سوخت موادو او انرژۍ ته ضرورت لري واضح خبره ده چې ددې لوېې هستۍ څېړنه به څنګه وکولای شي ؟

د جیولوجي علماؤ تر اوسه پورې نه دي توانیدلي چې د ځمکې (13-20) کیلو متره ژور خپل تحقیقات وکړي ځکه د (میټل )طبقې لاندې د (مګما) د اور لرونکې او اور غورځونکی طبقه ده چې هلته حرارت ډیر زیات دی.

همدارنګه ساینس تر اوسه پورې نشي کولای د لمر کره وګوري حتی د لمر کرې ته ورنیږدي شي ځکه چې حرارت زیات دی.

نو هغه بشر چې د خپلو پښو لاندې ځمکې او پاس لمر د کتلو توان نلري نو د لوړ آسمان (چې فاصله یوازې الله تعالی ته معلومه ده ) به څنګه وکتلای شي ؟

لکه د کائیناتو ، ځمکې ، لمر او نورو په اړه چې ساینسي معلومات اټکلي او فرضي دي همداسې د آسمان په اړه هم معلومات اټکلي دي.

آسمان یو کامل او محفوظ چت دی

پخوا به فلاسفه او نورو ویل چې فضاء پورته همداسې خالي ده مګر وروسته دا نظریه رد شوه.

په 2007 کال کې د امریکا ناسا مؤسسې د فضاء چاپیره یو تیاره ماده (Drak Matter) کشف کړه چې ضخامت یې ډیر زیات دی چې تقریباً 2.5 میلیون نوري کلونه ته رسیږي او مونږ پوهیږو چې د نور سرعت په یو ثانیه کې (300000) کیکو متره ته رسیږي .

همدارنګه دوکتور هثیم طلعت وايي : ما خپله په فریک کې لوستلي کوم چې د اینشتاین د 1916 کال د نظریه خلاصه وه چې په 60 ورقو کې ترتیب او د (annalen derphysic) مجله کې نشر شوې او په کې لیکل شوي وو چې:

موجود ستوري کوم چې تجلی کوي او پرکیږي همداسې په فضاء کې ځای پر ځای شوي نه دي بلکې په داسې یو آساس او بناء پورې ځوړند دي چې دغو ستورو د کتلې او جسم طاقت لري (أشهرشبهة یطرحها الملحد/دوکتور هثیم طلعت ).

السماء بناء متكامل وسقف محفوظ ومرفوع، هذه المسألة أنا بحثت فيها في الفيزياء بنفسي، في عام 1916 لخص اينشتاين نظريته العامة في بحث نشر في مجلة annalen derphysic بين في أقل من 60 صفحة أن الفضاء ليس مجرد ستار تتجلى عليه الحوادث بل هو نفسه بنية أساسيه تتأثر بطاقة الأجسام التي يحويها وبكتلتها وقد علق ماكس برون على النظرية بقوله " تبدو لي النظرية إنها أعظم إنجاز حققه الفكر البشري عن الطبيعة وأنها أعظم تركيب مذهل يجمع بين النظرة الفلسفية الثاقبة والإلهام الفيزيائي والمهارة الرياضية".

إذن السماء مبنية ويمكن أن تسقط ويمكن أن تنهار مادتها في أي لحظة ويمكن أن تصطدم المادة المظلمة التي تُكون 72% من مادة السماء بذرات عالمنا المادي فينهار عالمنا المادي في أي لحظة ويمكن أن تتحول أكبر الأفلاك في عالمنا إلى ثقوب سوداء وتنهار في أي لحظة .. إذن الله وحده هو الذي يمسك السماء أن تقع على الأرض (دوكتور هثيم طلعت ).

نو ثابته شوه چې آسمان د سماوي مادي څخه جوړ شوی دی اتکل ښي چې ۷۲٪ له تياره مادي څخه تشکيل شوی دی ، آسمان جسمي او مادي جوښت لري چې الله سبحانه وتعالی پخپل قدرت درولی دی.

ورونو او خویندو ! د الله تعالی دومره پراخه کائینات او هستي ده چې د انسان فکر هغه بالکل نشي احاطه کولای.

مونږ چې څه وینو ځمکه ، لمر ، آسمان او نورې سیاري او ددې په باره کې چې د بشر له لړو اتکلي څیړنو څخه اروو ، ددې څخه علاوه نوره هستي خو یوازې الله تعالی معلومه ده.

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د معراج په شپه اووه آسمانونه لیدلي اوبیا تر سدرة المنتهی پورې تللی نو دا به څومره هستي وي....

بس ددې څخه څرګندیږي که چا جعرافیه او جیولوجي لوستي وي نو د ځمکې له قطر او لویوالی به خبر وي خو د لمر قطر بیا د ځمکې په نسبت (109) ځله لوی دی ، یعنې لمر (109) ځله له ځمکې څخه لوی دی.

سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم

**ځمکه يو طبقه او که اووه طبقي :**

پوښتنه: اسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته يو ملحد وايي چې په قرآن کې د اوو ځمکو يادونه شوي (طلاق :۱۲ ايه ) مګر ساينس يوه ځمکه پيژني.

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

د جمهورو په نزد اووه ځمکې دي يا ځمکه له اوو طبقو څخه تشکيل شوې ده ، لقوله سبحانه وتعالی:

[اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ] (طلاق :۱۲ ).

ژباړه: الله هغه ذات دی چې اوه اسمانونه يې پيدا کړي دي او له ځمکې نه هم د دغو په مثل.

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : «مَنْ أَخَذَ مِنَ الأَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهِ خُسِفَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ» (البخاري).

يعنې: څوک چې د بل چا ځمکه په ناحقه تصرف کړي د قيامت په ورځ به تر اوو طبقو پورې عرق کړ شي.


او دا چې دا طبقې څرنګه دي يوازې الله تعالی پرې پوه او عالم دی.

ځينې مفسرين وايي د دغو طبقو تر مينځ فاصله ده او ځينې مفسرين وايي : دا طبقې سره نښتې دي او د آسمان په څير يې تر مينځ فاصله وجود نلري (تفسير القرطبي ).

او د ځمکې د داخلي برخو او طبقو په اړه د ساينس پوهان څيړنې او تحقيقات اټکلي دي په دې باره کې انسان ته پوره علم نشته . ځکه انسان تر اوسه پورې يوازې په دې باندې توانېدلای دی چې د ځمکې داخلي برخې د وسائلو په وسيله تر (13-20 ) کيلو متره پورې وڅيړي او د هغه زيات امکان نلري ځکه په دغه عمق او ژوروالی کې حرارت ډير زيات او هر څه د مکما حالت لري.

پخوا ساينس پوهانو د اټکل او سطحي معلومات له مخې ويل چې ځمکه له دريو طبقو څخه تشکيل شوې ده ، مګر اوس وايي چې ځمکه له اوو طبقو څخه تشکيل شوې ده چې د هرې طبقې د موادو خاصيت او د حرارت درجه فرق لري.

د امريکا ساينس پوهانو ځمکه اووه طبقې ګڼې چې لاندې شکل يې ترسيم کړی دی:




پس ددې لوېي هستۍ علم يوازې د هغه د خالق او مالک (جل جلاله ) لره دی او مونږ په هغه څه پوهيږو د کوم يې چې د آسماني دين او وحی په ذريعه خبر راکړی وي.

و ما توفيقي الا بالله عليه توکلت و اليه انيب

## ځمکه کروي ده او که مسطح ؟

السلام عليکم ، په فيسبوک کې يو ملحد وايي ساينس ځمکه کروي بولي مګر په قرآن کې هموار ذکر شوی ، که ددې ځواب مو را کړ مهرباني به مو وي

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

د ځمکي بيروني سطح د انسانانو او نورو مخلوقاتو د ژوند کولو لپاره هواره او مسطحه ده ، لقوله سبحانه وتعالى : الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشاً وَالسَّمَاء بِنَاء )البقرة:٢٢).

مګر په مجموع کې د ځمکي کره د اوبو د بحرونو ، د ځمکي لاندې برخو او ټولو اجزاوو سره کروي شکل لري ، لقوله سبحانه وتعالى : [ يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ ] (الزمر:٥)

جاء في شبهة يطرحها الملحد / دوكتور هيثم طلعت:

أما عن بسط الأرض فهذه حقيقة لا تمنع من تكورها، وقد نقل ابن تيمية إجماع علماء الإسلام على كروية الأرض ودورانها والإجماع منقول منذ ألف سنه كما جاء في مجموع الفتاوى، 6 / 587 بل وينقل الإجماع أيضا ابن الجوزي وابن حزم .. ويقول ابن تيمية كلمة عجيبة في ذلك حيث يقول وَأَمَّا مَنْ ادَّعَى مَا يُخَالِفُ الْكِتَابَ وَالسُّنَّةَ فَهُوَ مُبْطِلٌ فِي ذَلِكَ وَإِنْ زَعَمَ أَنَّ مَعَهُ دَلِيلا حِسَابِيًّا ... فالأمر قد حسمه القرآن

وقال فيه كلمته { يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ} (5) سورة الزمر... ولا يكون تكوير إلا على سطح كرة!

## لومړی ځمکه پیدا شوې او که آسمان ؟

د پاڼې درنو چلوونکو اسلام عليكم ورحمة الله وبركاتو له یوه ملحد سره مخامخ شوی یم چه په لاندې موضوع بحث کړې دی که مو په دې اړه قناعت بخښه ځواب برابر کړ ډېره مهرباني به مو وي
سوال: ځمکه له آسمانه مخکې او که آسمان ترځمکې دمخه پیداده ؟ د (فصلت ۹-۱۲)ایت کې وایی اسمانونه له ځمکې څخه وروسته پیدا دی. (النازعات ۲۷-۳۳) ایت کې وایی اول اسمانونه بیا ځمکه پیدا ده.

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

لومړی ځمکه او بیا آسمان پیدا شوی، لقوله سبحانه وتعالی : [خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَنْدَادًا ذَلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ] (فصلت :۹).

، ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ ( فصلت :۱۲).

او د آسمان وروسته د ځمکې د پاسه نور اسباب پیدا شوي دي ، لقوله سبحانه وتعالی : [وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَلِكَ دَحَاهَا] (النازعات :۳۰ ) او د [دحاها] تفسیر داسې دی : [أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا] (النازعات :۳۱).

ابن عباس رضی الله ددې دواړو آیتونو جمع داسې کړې ده:

اعلم أولا أن ابن عباس رضي الله عنهما سئل عن الجمع بين آية السجدة وآية النازعات، فأجاب بأن الله تعالى خلق الأرض أولا قبل السماء غير مدحوة، ثم استوى إلى السماء فسواهن سبعا في يومين، ثم دحا الأرض بعد ذلك، وجعل فيها الرواسي والأنهار وغير ذلك.
فأصل خلق الأرض قبل خلق السماء، ودحوها بجبالها وأشجارها ونحو ذلك، بعد خلق السماء.
ويدل لهذا أنه قال: {وَالأرض بَعْدَ ذَلِكَ دَحَاهَا} ولم يقل خلقها ثم فسر دحوه إياها بقوله: {أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا] {النازعات:31]. (تفسير ابن كثير و فتح القدير و تفسير الطبري ).

## د کائیناتو د پیدایښت په ورځو کې د یوې شبهې ځواب:

پوښتنه: اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاتو له یوه ملحد سره مخامخ شوی یم چه په لاندې موضوع بحث کړي دی که مو په دې اړه قناعت بخشه ځواب برابر کړ ډېره مهرباني به مو وي

۱ -د نړی پیدایښت په شپږو ورځو که په اتو کې شوی دی د (سجده ۴) ایت یې په شپږو ورځو کې وایی ( فصلت۹-۱۲) ایتونه یې بیا په اتو ورځو کې وایې.

ځواب

بسم الله الرحمن الرحیم

الله سبحانه وتعالی ځمکه او آسمانونه او د هغه تر مینځ شیان په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي ، لقوله سبحانه وتعالی : [اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ] (السجدة ۴).

او د فصلت په ۹ او ۱۰ آیت شریف کې فرمایي : [قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَندَادًا ذَلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ *وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَاء لِّلسَّائِلِينَ] (فصلت :۹-۱۰ ).

د پورته آیت کریمه ظاهري معنی داسې راځي چې په دوو ورځو کې ځمکه پیدا شوې او څلورو ورځو کې د ځمکې نور ضروروریات او په دوو ورځو کې آسمانونه چې ټولې ورځې ۸ کیږي داسې نه ده او دا ډول معنی غلطه او د ټولو تفسیرونو خلاف ده.

بلکې ددې معنی دا ده چې ځمکه په دوو ورځو کې پیدا شوې ، او په دوو نورو ورځو کې په هغه باندې د پاسه غرونه نصب شوې او د رزق اسباب او نور برابر شوي دي ، یعنې یوازې ځمکه په دوو ورځو کې پیدا شوې ده او د ځمکې او د هغه د ضروریاتو پیدایښت ټول په څلورو ورځو کې شوی دی.

مثلاً مونږ وایو د کابل څخه تر کندهار پورې ۵۰۰ کیلو متره لاره ده او تر هراته پورې تقریباً ۱۱۰۰ کیلو متره لاره ده نو ددې خبرې معنی دا نه ده چې د کابل نه تر هراته (۱۱۰۰+۵۰۰ ) کیلو متره لاره ده بلکې معنی دا ده چې د کابل څخه تر کندهار پورې ۵۰۰ کیلومتره او د کندهار څخه تر هرات پورې ۶۰۰ کیلومتره چې ټوله لاره ۱۱۰۰ کلیومتره کیږي.

يعني د ځمکې او د هغه پاسه غرونو ، سيندونو ، چينو ، او ژونديو مخلوقاتو د رزق د اسبابو پيدايښت ټول په څلورو ورځو کې پيدا شوى دى.

او پاتې دوو ورځو کې آسمانونه پيدا شوي دي [فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ] (فصلت :١٢) ،او په دې معنى باندې د ټول امت ، ټولو مفسرينو او ټول اهل لغت اتفاق دى.

جاء في تفسير ابن كثير:

وخلق الأرض في يومين، ثم خلق السماء، ثم استوى إلى السماء، فسواهن في يومين آخرين، ثم دَحَى الأرض، ودَحْيُها: أن أخرج منها الماء والمرعى، وخلق الجبال والجماد والآكام وما بينهما في يومين آخرين، فذلك قوله: { دَحَاهَا } وقوله } خَلَقَ الأرْضَ فِي يَوْمَيْنِ } فَخُلِقت الأرض وما فيها من شيء في أربعة أيام، وخلقت السماوات في يومين.

و جاء في تفسير القرطبي ، الطبري و اضواء البيان:

[ فِي يَوْمَيْنِ ] سوى الأربعة الأيام التي خلق فيها الأرض، فوقع خلق السموات والأرض في ستة أيام؛ كما قال تعالى: [خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ] على ما تقدم في {الأعراف} بيانه. قال مجاهد: ويوم من الستة الأيام كألف سنة مما تعدون. وعن عبدالله بن سلام قال: خلق الله الأرض في يومين، وقدر فيها أقواتها في يومين، وخلق السموات في يومين؛ خلق الأرض في يوم الأحد والاثنين، وقدر فيها أقواتها يوم الثلاثاء ويوم الأربعاء، وخلق السموات في يوم الخميس ويوم الجمعة، (تفسير قرطبي ، ابن كثير ، الطبري ، اضواء البيان).

ټول تفاسير او د اهل عرب او عجم ټول علماء په همدې معنى متفق دي.

## د ام مؤمنين عايشې رضى الله عنها د واده په اړه د يوې شبهې ځواب

السلام عليكم ، په فيسبوک کې يو اسلام دوښمن د بى بى عايشې رضى الله عنها په ازواج نيوکه کوي چې د هغې سن کم وو، په دې اړه ماته تفصيلي ځواب راکړى څو هغه ته ځواب ووايم.

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

رسول صلی الله علیه وسلم د عایشې رضی الله عنها سره په ۹ کلنی کې واده کړی او د پورته ذکر شوې شبهه ځواب داسې دی:

اول –د هغې لومړی خواستګار جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وو بلکې د هغه څخه مخکې "جبير بن مطعم" د هغې خواستګارې کړې وه چې د هغې پر کمال دلالت کوي.

دوهم –پخپله جناب رسول صلی الله علیه وسلم د هغې خواستګارې نه ده کړې بلکې «خولة بنت الحکيم » رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هغې سره د واده کولو وړاندیز وکړ او رسول صلی الله علیه وسلم ته یې وویل چې هغه ډیره صالح میرمن ده او د داسې چا لور ده چې هغه خپله تاته په ټولو صحابوو کې خوښ دی چې دا ابوبکر صدیق رضی الله عنه دی.

دریم : دا یو ښکاره حقیقت دی چې د ګرمو مناطقو نجوني او ځوانان ژر بلوغ ته رسیږي مګر د سړو مناطقو وروسته بلوغ ته رسیږي.

شبكة الألوكة ليكي :

كما تقول الدكتورة "دوشني" -وهي طبيبة أمريكية-: "إن الفتاة البيضاء في أمريكا قد تبدأ في البلوغ عند السابعة أو الثامنة، والفتاة ذات الأصل الإفريقي عند السادسة. ومن الثابت طبيًّا أيضًا أن أول حيضة والمعروفة باسم (المينارك menarche) تقع بين سن التاسعة والخامسة عشرة."
لکه څنګه چې امريکايي ډاکټره "دوشنی" وايي : په امریکا کې سپین پوستې نجونې (۷-۸ )پورې بلوغ ته رسیږي او افریقایي اصله نجونې له شپږ کلنی څخه وروسته او همدارنګه دا یو ثابت طبي اصل دی چې لومړی حیض چې د مینارک په نوم یادیږي د (۹- ۱۵) کلونو کې مینځه راځي.

همدارنګه صحي اداري (healthwise) په تاریخ March 12, 2014 راپور ورکړی چې:

girl's first menstrual period. A first period usually happens after breasts, pubic hair, and underarm hair have begun to grow. Menarche is a sign of growing up and becoming a woman. It can happen as early as about age 9 or up to age 15. (Healtwise 12march 2014)

څلورم : په هغه عصر کې په واده کې د سن تفاوت عیب نه وو ، ځکه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ۲۵ کلن ځوان له څلویښت کلنې کونډې سره واده کړی.

په سیرت او تاریخ کې ددې هیڅ ثبوت نشته چې هغه عصر کې دې کوم کافر د خدیجې او یا عایشې رضی الله عنهما په واده باندې نیوکه کړې وي ، نو هغه وخت د کافران اقرار په دې باندې دلالت کوي چې دا کار د ټولنې په عرف کې کوم عیب نه وو که نه کافرانو به همغه وخت یو پیغور ورڅخه جوړ کړی وو مګر دا ثابت حقیقت چې هغه بلوغ ته رسیدلې وه او څه د عیب خبره نه وه.

نو څرګنده شوه چې دا یوه بې اصله ادعا ده.

## د أم مؤمناتو د تعدد حکمت

په فیسبوک کې ملحد دی چې هیڅ دین هم نه مني خو سره له دې د دین په شعائرو او فروعات کې ډول ډول نیوکې کوي ، چې یوه یې دا ده چې ولې ستاسو پیغمبر له ډېرو ښځو سره واده کړی دی.

ځواب

بسم الله الرحمن الرحیم

جناب رسول صلی الله علیه وسلم تقریباً ۲۵ کاله له خدیجه رضی الله عنها سره تیر کړل . یعنې تر ۵۰ کلنی پورې یې له خدیجې رضی الله عنها سره ژوند تیر کړ چې (۲۵-۵۰) کلونه د ژوند اساسی مرحله بلل کیږي او وروسته یې د لاندې مصلحتونو لپاره د نورو ښځو سره واده کړی دی:

۱ -په ښځو کې د دین خپرول او ښځو ته د دین د احکامو رسول چې په دې سلسله کې د رسول صلی الله علیه وسلم هره بی بی یوه د دین دعوتګره وه.

۲ -نورو قومونو او ولسونو ته دین رسول ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځینو ښځو سره په دې خاطر نکاح کړې ده څو د نورو قومونو امداد او قوت د اسلام د نصرت او دعوت لپاره جلب کړي.

۳ -د شر څخه په امن کېدل ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځینو قومونه د ښځو سره په دې خاطر نکاح کړي ده تر څو د خپلولی په خاطر د هغوی د شر او ضرر څخه په امن وي.

۴ -او د ځینو سره یې په دې خاطر نکاح کړې ده څو د هغوی سرپرستي وکړي او ددې کار عملاً خلکو ته تعلیم ورکړي لکه د سوده رضی الله عنها سره چې په رنګ کې ډیره ضعیفه وه ،هغې د حبشی د دوهم هجرت وروسته خپل خاوند له لاسه ورکړی وو او د هغې ټول قوم کافر وو که خپل قوم ته تللې وای یا

به يې په قتل رسوله او يا به سختې شکنجې ورکولې او يا به يې له اسلام څخه ګرځوله نو ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغې د حفاظت او سرپرستۍ پخاطر له هغې سره واده کړى دى.

۵ -او د ځينو ښځو سره د جاهليت د زمانې د باطلو رواجونو د عملاً له مينځه وړولو په موخه واده کړې دى لکه : د جاهليت په زمانه کې د بيګانه اولاد د زوى بللو او ګرځولو او محرم ګڼلو رواج وو ، رسول الله صلى الله عليه وسلم د همدې باطل رواج د له مينځه وړلو لپاره د زينب رضى الله عنها سره واده کړى دى.

و ما توفيقي الا بالله عليه توکلت واليه انيب

## په نکاح کې د ښځو د تعدد حکمت

د يوې ښځې څخه علاوه بلې ښځې سره واده کول يو اتسنايي حالت دى چې په اسلامي نړۍ کې د دوهم واده فيصدي ډيره کمه ده په ځينو هيوادونو کې تر يو فيصد کم ده لکه زمونږ هيواد او سوريه کې يو فيصد ته رسيږي په مصر کې درى څخه تر څلور فيصده پورې ده چې د ځينو حاجتونو له مخې دوهم واده ته ضرورت پيښيږي چې هغه حاجتونه او اسباب په لاندې ډول دي:

۱ -د ښځې مرض :

که چيرې ښځه ناروغه وي چې اولاد يې نه پيدا کيږي څرنګه چې د نکاح يو هدف نسل دى نو په دې وجه بل واده ته ضرورت پيښيږي څو د نسل سلسله جاري شي.

۲ -د نارينه د شهوت زياتوالى :

ځنو سړيو ته الله تعالى زيات جنسي قدرت ورکړى وي

۳ -د ښځو د شمير زياتوالى :

اسلام په دې اړه پخوا خبر ورکړى دى چې په آخر وخت کې به د ښځو شمير زيات شي نظر سړيو ته او دا په ثبوت رسيدلې خبره ده.

دوکتور وهبة الزحيلي په فقه اسلامي و ادلته کې ليکي:

إن نظام وحدة الزوجة هو الأفضل وهو الغالب وهو الأصل شرعاً، وأما تعدد الزوجات فهو أمر نادر استثنائي وخلاف الأصل، لا يلجأ إليه إلا عند الحاجة الملحة، ولم توجبه الشريعة على أحد، بل ولم ترغب فيه، وإنما أباحته الشريعة لأسباب عامة وخاصة.

أما الأسباب العامة: فمنها معالجة حالة قلة الرجال وكثرة النساء، سواء في الأحوال العادية بزيادة نسبة النساء، كشمال أوربا، أم في أعقاب الحروب، كما حد ث في ألمانيا بعد الحرب العالمية الأولى، إذ أصبحت نسبة النساء للرجال واحداً إلى أربعة أو إلى ستة، فقامت النساء الألمانيات بمظاهرات يطالبن بالأخذ بنظام تعدد الزوجات.

وحينئذ يصبح نظام التعدد ضرورة اجتماعية وأخلاقية، تقتضيها المصلحة والرحمة، وصيانة النساء عن التبذل والانحراف، والإصابة بالأمراض الخطيرة مثل مرض فقد المناعة ( الإيدز)، والإيواء في ظل بيت الزوجية الذي تجد فيه المرأة الراحة والطمأنينة،بدلاً من البحث عن الأصحاب الوقتيين، أو حمل لافتات في مواطن إشارات المرور يعلن فيها عن الرغبة في الاتصال الجنسي (فقه الاسلامي وادله / استاد دوکتور وهبة زحيلي).

ژباړه:

يقيناً چې د يوې ښځې نظام غوره دى او همدا د شريعت اصل دى مګر په ځينو استثنايي حالتونو کې د اصل خلاف دوهم واده ته حاجت پېښيږي چې د يوې ښځه علاوه نورو ښځو سره واده کول په اسلامي شريعت کې نه واجب دي او نه يې هم په دې اړه ترغيب ورکړی بلکي د ځينو عامو او خاصو شرايطو په صورت کې مباح دی عام شرايط لکه:

د ښځو د زيادت او د سړيو د کمي معالجه کول هغه که په عادي حالاتو کې وي لکه په شمالي اورپا کې د ښځو د نسبت زياتوالی او په جنګي شرايطو کې لکه په آلمان کې چې د لومړي نړيوال جنګ څخه وروسته د نارينه شمير د ښځو په نسبت ډير کم شو داسې چې تقريباً د يوه سړي په سر به څلور او يا شپږ ښځې رسيدلې بيا آلماني ښځو مظاهرې وکړې چې په واده کې د ښځو شمير زيات کړ شي.

نو په همدې خاطر په ځينو حالاتو کې د ښځو تعدد يو اخلاقي او ټولنيز ضرورت دی او ددې ضرورت په وجه تعدد يو مصلحت او رحمت دی ځکه ښځې د انحرافاتو او خطرناکو امراضو لکه ايډز څخه ساتي او ښځه يوه سرپناه مومي چې په هغه کې په اطمنان او راحت سره ژوند کولای شي ، د هغه جنسي بې لارېتوب او نا مشروع ملګريو مخه نيول کيږي چې په عامه لارو او محلونو کې يو بل ته د جنسي رعبت کولو اشارې کوي.

۴ -د مېړه او ښځې تر مینځ اختلاف :

ځینې وخت د مېړه او ښځې تر مینځ تعلقات خرابیږي خاوند د طلاق پر ځای دوهم واده ته ترجح ورکوي ځکه الله تعالی ته په ټولو حلالو کې طلاق بد دی «أبغض الحلال إلى الله »

ځکه طلاق دایمي فراق دی کیدای شي د دوهم واده په وجه د ښځې اخلاق او سلوک سم شي او هغوی په دې لاره کې رقابت وکړي چې دا لاره واقعاً تر طلاق ورکولو څخه ښه لاره ده.

## په اسلام کې د مرتد د سزا حکمت

زما محترمو علماؤ مشرانو د سلامونو او احترام نه وروسته ډیره ډیره مننه کوم چه زما تیری پوشتنی مو په علمي دلایلو جواب کړی، هیله ده چه د ډیرو هغو کسانو شکونه به ورباندې لیری شوي وي چه د ناوړو تبلیغاتو له امله ورته را ولاړ شوي وو او ماغوندې خوارانو په دلایلو نه قانع کیدل.

اوس ستاسو حضور ته نوی موضوع چه په همدغه سلسله کی نن سبا ډیره تاوده ده وړاندی کوم هیله کوم رڼا ورباندې واچوی او هغه د مرتد سزاده چه زما د قاصری مطالعی له مخی یې په مبارك قران کې صریح حکم نشته،دوی دا سؤال هم کوي چه عیسایي مسلمان کیدلی شي نو مسلمان ولی خپل دین بدلولی نه شي او د خپلی ادعا له لباره د(لا اکراه في الدین) او(فمن شاء فلیؤمن ومن شاء فلیکفر) دلایل راوړي چه کیدی شي تاسو به هم لوستلي وي، امید دی چه لازمه تشریح ورکړی والسلام

ځواب

بسم الله الرحمن الرحیم

رښتیا هم چې دا لوی سوال مهمه مسئله ده ، او په دې اړه د اسلام دوښمنو او منافقانو تبلیغات هم وجود لري ، او دا سوال څو اړخونه لري ، چې د الله سبحانه وتعالی په فضل او نصرت سره به د خپل وس موافق داسې تفصیل ورکوو:

لومړي په اسلام کې د مرتد سزا :

په اسلام کې د مرتد ( څوک چې د اسلام څخه کفر ته ګرځیدلی وي ) سزا یې قتل ده ، هغه ته به درې ورځې وخت ورکول کیږي تر څو که څه شکونه او شبهات ور پیښ شوې وي هغه لرې او توبه وباسي او کچیرې توبه ونباسي هغه به د اسلامي محاکمې لخوا وژل کیږي.

د مرتد قتل د رسول الله صلى الله عليه وسلم په نص سره ثابت دی چې د ټولو صحابه کرامو ، ائمه کرام او امت وربانديږ اجماع ده.

«من بدل دينه فاقتلوه» (رواه الجماعة إلا مسلماً، ورواه ابن أبي شيبة وعبد الرزاق).

يعنې : چا چې دين بدل کړ (مرتد) شو هغه ووژنئ.

او فرمايي: « لا يحل دم امرئ مسلم إلا بإحدى ثلاث: الثيب الزاني، والنفس بالنفس،والتارك لدينه المفارق للجماعة» (متفق عليه ).

يعنې : د مسلمان سړي د وينې تويول (وژل ) جايز نه دي مګر د دريو کسانو : واده شوي زنا کاره ، نفس په نفس (قصاص ) او د دين ترک کوونکی د جماعت څخه جلا شوي.

د شرعي احکامو د ثبوت لپاره څلور دلائل دي : قرآنکريم ، سنت ، اجماع او قياس.

ځينې احکام په اجمالي توګه په قرآنکريم کې بيان شوي لکه : أقموا الصلاة (لمانځ ادا کړئ ) ، همدارنګه د حج د فرضيت حکم شوی دی ، خو د تفصيلي احکامو او مناسکو تفصيل په سنتو کې راغلی دی ، د لمونځ او حج د ادا کولو طريقه او کيفيت له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت شوی دي.

ځکه چې سنت هم د الله تعالى د جانبه وحی ده ، د صحي او ثابتو سنتو څخه انکار په اجماع د څلورو مذاهبو کفر دی.

لقوله سبحانه وتعالى: [ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ] (الحشر: ٧ ).

## ولې اهل کتاب خپل دين بدلولی شي خو مسلمان خپل دين نشي بدلولای ؟

سوال کوونکی زياتوي : دوی دا سؤال هم کوي چه عيسايي مسلمان کيدلی شي نو مسلمان ولې خپل دين بدلولی نه شي او د خپلی ادعا له لپاره د (لا اکراه في الدين) او(فمن شاء فليؤمن ومن شاء فليکفر) دلايل راوړي چه کيدی شي تاسو به هم لوستلي وي، اميد دی چه لازمه تشريح ورکړی والسلام

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

واضح خبره ده چې د اسلام په نزول سره پخواني آسماني اديان منسوخ اعلان شوي ، الله سبحانه وتعالی ته د قبول وړ دين يوازې اسلام دی ، اسلام ټولې نړۍ ته دعوت ورکوي چې د اسلام بر حق دين ته تسليم شي.

لقوله سبحانه وتعالی: إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الإِسْلامُ

مسلمان ځکه خپله دين نشي بدلولای چې د حق څخه د کفر ، طاغوت او ګمراهۍ ته طرف ځي او داسې کول ستره تباهي ده او د الله تعالی پر وړاندې ستر بغاوت دی.

اهل کتاب او د نورو باطلو اديانو پيروان ځکه خپل دين اسلام ته بدلولی شي چې هغوی د کفر او ګمراهۍ څخه د حق طرف ته رجوع کوي.

**[لا اکراه في الدين] معنی څه دی ؟**

د «لا اکراه في الدين» په تفسير کې څو اقوال دي:

لومړي : دا خطاب د هغه چا لپاره دی چې په دين کې نوي داخليږي ځکه چې اسلام له واضحو دلائلو او حجت سره راغلی دی اکراه ته ضرورت نلري څوک چې اسلام ته داخليږي په بصيرت سره به داخليږي ، او هغه کس چې مرتد شي د هغه حکم جلا دی چې يو ځل يې حق منلی او وروسته يې له هغه څخه انکار کړی.

دوهم: د « لا اکراه في الدين» په تفسير کې بل قول دا دی چې دا خطاب خاص اهل کتاب لره دی ، هغوی که د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې جنګ نه کوي ، د اسلامي حکومت تر قيادت لاندې جزيه ورکول غواړي نو د هغوی په ايمان راوړلو کې اکراه نشته.

دريم قول: دا دی چې دا آيت شريف د جهاد په حکم سره منسوخ شوی دی.

تفسير ابن کثير ليکي:

]لا إِكْرَاهَ فِي الدِّين] أي: لا تكرهوا أحدًا على الدخول في دين الإسلام فإنه بين واضح جلي دلائله وبراهينه لا يحتاج إلى أن يكره أحد على الدخول فيه، بل من هداه الله للإسلام وشرح صدره ونور بصيرته دخل فيه على بينة، ومن أعمى الله قلبه وختم على سمعه وبصره فإنه لا يفيده الدخول في الدين مكرها مقسورًا.

وقد ذهب طائفة كثيرة من العلماء أن هذه محمولة على أهل الكتاب ومن دخل في دينهم قبل النسخ والتبديل إذا بذلوا الجزية . وقال آخرون : بل هي منسوخة بآية القتال وأنه يجب أن يدعى جميع الأمم إلى الدخول في الدين الحنيف دين الإسلام (تفسير ابن كثير رحمه الله ).

د ﴿فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ معنى څه ده ؟﴾

همدارنګه د : ﴿فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ﴾ ]الكهف: 29]، معنى اختيار نه دی چې پر أمر دلالت وکړي ځکه فعل مضارع مسبوق د لام أمر سره راغلی دی چې په تهديد او وعيد باندې دلالت کوي، يعني : الله سبحانه وتعالى تهديداً او وعيداً داسې فرمايلي دي چې : فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ ،په دليل د دغه قول د الله تعالى : ﴿إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا﴾.

بلکې تهديداً دا الفاظ ذکر شوي.

**د مرتد د قتل حکمت څه دی ؟**

اول: اسلام د انسان د پنځو سترو شيانو د ساتنې ضامن دی.

دين ، نفس ، نسل ، عقل او مال.

چې ددې پنځو شيانو د حفاظت لپاره يې حدود وضع کړي دي ، لکه:

د دين د ساتنې لپاره د مرتد وژل.

د نفس د ساتنې لپاره قصاص.

د نسل د ساتنې لپاره د زنا او بهتان حدود.

د عقل د ساتنې لپاره د خمرو حد.

د مال د ساتنې لپاره د غلا او قطاع طريق حدود.

دوهم :

د مسلمانانو د يوالي او اجماع بنسټ او آساس عقيده او ايمان دی ، همدا عقيده او ايمان دی چې د شرق څخه تر غربه او شمال څخه بيا تر جنوب پې ټول مسلمانان سره وروڼه ګرځولي دي ، څوک چې د مسلمانانو اجماع او يوالی او بنسټ ته ضرر او صدمه رسوي عظيم جرم دی او د دغه جرم په وجه هغه ته د ارتداد سزا ټاکل شوي ده.

دريم :

مرتد په اسلامي ټولنه کې پر ډاګه د ظلالت او ګمراهی بيرغ پورته کوي ، د الله تعالی ، د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم ، اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د جنګ اعلان کوي او د اسلام د تخريب کوښښ کوي ، تاسې به هيڅکله داسې مرتد نه وي ليدلی چې هغه دې کافر شوی وي او بيا دې آرام ناست وي بلکې هغه بيا د اسلام پر وړاندې عملي جنګ او تخريب ته لاس اچوي ، نو په همدې خاطر د اسلام مبارک دين د دغه ناسور د له مينځه وړلو حکم کړی دی.

و ما توفيقي الا بالله عليه توکلت واليه انيب

## د يو غير مسلم د سوال ځواب :

يو ورور مسيح راليږلی ؤ مګر مسيح يې رانه ورک شو چې د مسيح متن يې داسې ؤ : چې زما يو هندو ملګری دی هغه ته مې د اسلام دعوت ورکړ، هغه را ته وويل چې که زما د سوال ځواب راکړې زه اسلام قبلوم ، هغه دا چې ستاسو خدای له چا څخه پيدا شوی دی ؟

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

يو ځل جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم ته مشرکانو ووېل: چې د خپل رب صفتونه او نسب (د چا نه پيدا شوي ) مونږ ته بيان کړه چې بيا د مشرکانو په ځواب کې دغه سورت نازل شو :

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ .

ژباړه : (ووايه ای محمده ! دوی ته ) چې الله يو دی ، الله بې نيازه دی (الله ته هر څه محتاج دي ) ، نه تري څوک پيدا دي او نه له چا څخه پيدا دی او نه د ده سيال څوک شته .

يعني د الله سبحانه وتعالى خاص صفت دا دى چې هغه يو دى په خپل ربوبيت او خدايي کې هيڅ شريک نه لري ، نه له چا څخه پيدا شوى دى او نه ترې څوک پيدا شوي دى .

ځکه له بل چا څخه پيدا کيدل او يا ځېرول د تعدد او تکثر يا زيادت طريقه ده چې الله سبحانه وتعالى ددې څخه پاک دى ځکه چې يوازې دى که الغياذ بالله دوه يا څو خدايان وي نو د کائيناتو نظام ثابت نشي پاتې کيداى ځکه چې يو به يې يو شانته کوي او بل يې بل شانته چلوي ، او بل هر پلار چې زوى ځېروي اصلاً دغه پلار زوال لري ځکه د ده پر ځاى يې زوى ځاى ناستى شو او د ټول مخلوق سلسله همداسې روان ده چې پلرونه مري او زامن يې پر ځاى پاتې کېږي تر څه وخت پورې بيا هغوى مري او د هغوى ځامن پاتې کېږي . چې ددې صفت څخه الله سبحانه وتعالى پاک دى ځکه که الغياذ بالله زوال ولري نو دا زرګونه کاله د کائيناتو نظام څوک چلوي ؟ او وروسته به يې څوک ځلوي ؟.

پس زموږ خالق (جل جلاله) يوازې دى ، بې نيازه دى ، نه له چا څخه پيدا او نه ترې څوک پيدا شوى دي او نه مثل او سيال لري .

## ولې اهل کتاب له يوې مسلمانې جينۍ سره واده نشي کولې؟

اسلام عليکم ورحمته الله وبرکاته
يو مسلمان ځوان کولې شي د يوې عيسوى جينۍ سره واده وکړي، مګر يو عيسوي ځوان د مسلمانې جينۍ سره واده نشي کولې؟ دا پوښتنه رانه يو ناروېژي کړې چې د نړۍ هيڅ مذهب نه مني. ستاسو نه مرسته غواړم تر څو د اسلام په رڼا کې جواب راکړې

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

مسلمانې ښځې ته جايز نه ده چې د کافر سړي سره نکاح وکړي که څه هغه کافر اهل کتاب وي

لقوله سبحانه وتعالى : [ولا تُنكحوا المشركين] (البقرة:2/221) (فقه الاسلامي وادلته ).

سبب د حرمت د الله سبحانه وتعالى دا قول دى چې فرمايي: [فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ] (الممتحنه :١٠).

ژباړه : او چي تاسي ته معلومه شوه چي ايمان لرونکي دي ، نو بيا يې کافرانو ته بيرته مه ليږئ . ځکه چي مؤمني ښځي کافرانو ته رواه نه دي او نه کافران هغوی ته رواه دي.

او فرمايي: [ وَلاَ تُنكِحُواْ الْمُشِرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُواْ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُوْلَئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَاللّهُ يَدْعُوَ إِلَى الْجَنَّةِ ....] (البقره :٢٢١).

ژباړه : او هم مسلماني ښځي مشرکانو ته مه واده کوئ تر څو چي مسلمان شوي نه وي . په يقين سره مسلمان مريی له مشرک اصيل څخه ډير غوره دی . که څه هم ستاسي ډير خوښ شوی وي دا کسان د اور په لور بولي او الله تعالی پخپل اذن او حکم سره تاسي ته د جنت او ښښي په لور بلنه درکوي.

قرآن خپله حکمت بيان کړ چي هغوی تاسي د اور طرف ته (کفر طرف ) بولي.

امام کاساني په بدائع الصنائع کي ليکي چي : د مؤمني ښځي نکاح کول د کافر سره ځکه حرام دي چي د مؤمني ښځي د کافر کېدو وېره ده ځکه چي خاوند يې هغه د خپل دين طرف ته بولي او ښځي عادتاً د خاوند تابع وي او د هغه د کړنو تر تأثير لاندي راځي او لکه څنګه چي په آخر د آيت کي ورته اشاره شوې چي هغې ته د اور طرف ته بلنه کوي ، يعني مؤمني ښځي کفر ته دعوتوي . ځکه چي کفر موجب د اور ګرځي نو ځکه د کافر سره د مسلماني ښځي نکاح د حرام طرف د دعوت سبب ګرځي نو د هغه سره نکاح کول هم حرام دي.

قال الكاساني في كتابه بدائع الصنائع: فلا يجوز إنكاح المؤمنة الكافر؛ لقوله تعالى: وَلاَ تُنكِحُواْ الْمُشِرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُواْ. ولأن في إنكاح المؤمنة الكافر خوف وقوع المؤمنة في الكفر، لأن الزوج يدعوها إلى دينه، والنساء في العادات يتبعن الرجال فيما يؤثرون من الأفعال ويقلدونهم في الدين، وإليه وقعت الإشارة في آخر الآية بقوله عز وجل: أُوْلَئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ، لأنهم يدعون المؤمنات إلى الكفر، والدعاء إلى الكفر دعاء إلى النار، لأن الكفر يوجب النار، فكان نكاح الكافر المسلمة سبباً داعياً إلى الحرام، فكان حراماً. انتهى،

## يهود او نصارا ولي خپلو اديانو ته د دعوت حق نلري ؟

اسلام عليکم ورحمت الله وبرکاته
دا چه مسلمان ته جايز نه دی چه يهودي يا نصراني شي
او يهود او نصاری ته جايز دی چه مسلمان شي
پدی هکله که عقلی او شرعی دليل پلاس کی لری راسره يی شريک کړی ډيره ضروری مسله ده راته.

الله د خیر درکړی
په درنښت

ځواب

بسم الله الرحمن الرحیم

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت او د قرآنکریم په نزول سره مخکېني آسماني کتابونه منسوخ شول

او الله سبحانه وتعالی اعلان وکړ چې نور د الله تعالی په نزد قبول دین اسلام او د اسلام په نزول ټول ادیان منسوخ او باطل دي.

ان الدین عند الله الاسلام

شرعي دلائل :

اول : د حضرت عیسيٍ (علیه السلام) دین د قرآنکریم په نزول سره منسوخ شوی دی او حضرت عیسی(علیه السلام) خپل قوم ته ویلی ؤ چې وروسته له ما څخه به بل پیغمبر راشي چې د هغې نوم به احمد وي تاسې بیا د هغه اطاعت او پیروی کوئ، لقوله سبحانه وتعالی:

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ فَلَمَّا جَاءَهُم بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ (الصف 6)

ژباړه : او یاد کړه هغه وخت کله چې وویل عیسی زوی د مریمی خپل قوم ته ای بنی اسرائیلو زه تاسې ته د الله تعالی رالیږل شوی پیغمبر یم چې تصدیق کونکی یم دهغه تورات چې مخکی له مانه راغلی او زیری ورکونکی د هغه پیغمبر چې له مانه به ورسته راشي دهغه نوم به احمد وي، خو کله چې دوی ته راغی سره له ښکاره نیښانونو دوی وویل دا خو ښکاره کوډې یا جادو دي.

دوهم : عیسی (علیه السلام) یواځې اسرائیلي پیغمبر ؤ.

عیسی (علیه السلام) یواځې د اسرائیلو د قوم لپاره مبعوث شوی ؤ نه دی ټولې نړی لپاره چې قرآن کریم یې داسې سپیناوی کوي:

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم

ژباړه : او یاد کړه هغه وخت کله چې وویل عیسی زوی د مریمې خپل قوم ته ای بني اسرائیلو! زه تاسی ته د الله (جل جلاله (له لوري پیغمبر استول شوی یم.

محمد رسول الله (صلی الله علیه وسلم ) د نبیانو ختم (ورستنی پیغمبر) دی یو عالمي پیغمبر دی قرآن هم یو عالمي آسماني کتاب دی:

مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ( احزاب 40 )

ژباړه:

إِنْ هُوَ إِلاَّ ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِين

یعنې : قرآن یو عالمی کتاب دی

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِين (الانبیاء 107)

یعنې :محمد رسول الله رحمت د ټول عالم دی.

عقلي دلائل :

نبوت ولی په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ختم شو ؟

د هیڅ کوم بل پیغمبر نه ورسته بل پیغمبر نه راځی مګر په دریو علتونو:

۱ -چی د مخکې پیغمبر تعلیمات له مینځه تللي وي او دی ته ضرورت وی چه بیا خلکو ته وړاندې شي.

۲ -د مخکې پیغمبر تعلیمات کامل او پوره نه وي نو دې ته ضرورت وي چه کامل شي.

۳ -چې د پیغمبر تعلیمات یوه قوم او امت ته خاص شوی وي چې نور قومونه او امتونه هم دی ته ورته پیغمبر ته ضرورت ولري.

نو اوس واضح وینو چه دغه دری واړه علتونه وجود نلري نو د نبوت سلسله هم ختمه شوې.

نو اوسنی نړۍ نوي تعلیماتو ته هیڅ ضرورت نلري ځکه قرآنکریم موجود دی سوونه کاله کیږی خو دیوه حرف تغیر هم پکې نشته د حضرت عثمان (رض) د وخت لیکل شوی مصحف اوس هم په موزیم کې موجود دی.

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند کړنلاره دهغه اقوال او افعال ټول په مکمل ډول په کتابونو کی ساتل شوی دي.

همغه د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د وخت تعلیمات په ټوله نړۍ کې داسې روان دي ته به وایې چه همدا اوس پیغمبر صلی الله علیه وسلم ژوندی دی.

و الله غنی عن کل شی ٍء

## د خنزیر د غوښې د حرمت حکمت :

اسلام علیکم ورحمت الله! په دی هیله روغ جور اوسئ ،،یوه ضروری پوختنی سره مخ شوی کیداشی راته یی جواب کری دیر زیات خوشحال به شم ،،،هغه داسی ده چی مسلمانان ولی دی خنزیر غوخه نه خوری ،،،نری مننه ستاسو دی کور ودان وی ستاسی د پوست نه مونگ دیره گته تر لاسه کری ده دیر خوخ یم ،،خوشحاله ژوند اولری

ځواب

بسم الله الرحمن الرحیم

اول:

په اسلامي شریعت کې د یو شي د حلالوالي او حراموالي اصل د ایمان څخه دی ، ځکه مونږ په قرآنکریم ایمان راوړی دی په قرآنکریم کې چې څه شیزونه حلال دي یا حرام هغه ټول مونږ د ولې او څنګه څخه پرته منلي دي ځکه په قرآن مو ایمان راوړی ، قرآنکریم د الله تعالی د جانبه نازل شوی هر څه چې حلال یا حرام دي د الله تعالی د طرفه او یا د پیغمبر صلی الله وسلم د طرفه حلال یا حرام ګرځول شوي دي او قرآن او سنت دواړه وحی ده.

الله تعالی چې څه حلال کړي او څه يې حرام کړي وي نو په هغه کې يې د خپلو بنده ګانو لپاره مصلحت شته ، ځکه چې الله تعالی د خپل پيدا کړي مخلوق په احوالو ښه خبردار دی ، لقوله سبحانه وتعالی : إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ (سوره القمان :۱۶ ).

يعني : يقيناً چې الله تعالی ډير بريک بين او په هر څه خبردار دی .

دوهم:

اسلامي شريعت د خنزير او نورو شيانو د حرمت تر څنګه د هغه د حرمت دليل هم ذکر کړی چې دغه شيان [رجس] پليتي ده او همدارنګه اسلامي شريعت هر هغه څه حرام ګرځولي دي کوم چې د انسان د عقل او صحت د پاره مضر وي.

لقوله سبحانه وتعالی : [أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ ...] (الأنعام :۱۴۵ ).

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي : [وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ] (الاعراف ۱۵۷).

الطيبات (پاک څيزونه ) نه مطلب ټول هغه شيان کوم چې په هغه کې د انسان د بدن د پاره ګټه وي ، بدن ته مضر نه وي ، عقل ته مضر نه وي ،

الخبائث (ناپاک څيزونه ) نه مطلب هغه شيان چې د انسان بدن ته زيان رسوي ګټور نه وي نا پاک او خبائث بلل کيږي.

د خنزير غوښه د انسان بدن ته ضرر رسوي او د خنزير په غوښه کې ډير خطرناک او وژونکي جراثيم کشف شوي دي.

چې ځينې يې دا دي :د نيپا ويروس (Nipah Virus) ، د دماغي التهاب ويروس (Japanese encephalitis) ، د زړه او دماغ ويروس (encephalomyocarditis) ، د سلمونيا باکريا (salmonellosis) ، خبيثه باکتريا (bacillus antharacis)او داسې نور.

الله سبحانه وتعالی هيڅ شی بې ګټې نه دي پيدا کړي ، ددې حيوان ستره ګټه دا ده چې خطرناکې باکترياوې او جراثم د ځمکې له مخ څخه کوم چې د خپراوي او انتشار سبب ګرځي ټولوي او هغو ته پر خپل بدن کې ځای ورکوي.

إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ

و الله سبحانه وتعالی اعلم

## ایا په نړۍ کې جنګ او جګړې ته لمن وهونکي مسلمانان دي؟

لومړی اسلام علیکم وحمة الله وبرکاته! دنیت له لاری می یوه بی دینه ته داسلام دعوت(بلنه) ورکړه، خو هغه راته یو دلیل وړاندی کړ چې په نړۍ کې لومړی جنګ او جګړه مسلمانانو شروع کړې، او د خپلې خبرې د ثبوت او سپینوی لپاره یی د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو مبارک حدیث هم راته وړاندی کړ، چې فرمایی وعن ابن عمر رضي الله عنهما : أنَّ رَسُولَ الله صلي الله عليه وسلم ، قَالَ : (( أُمِرْتُ أنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أنْ لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ ، وَأنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ ، وَيُقيمُوا الصَّلاَةَ ، وَيُؤتُوا الزَّكَاةَ ، فَإِذَا فَعَلُوا ذلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءهُمْ وَأمْوَالَهُمْ إلاَّ بحَقِّ الإسْلاَمِ ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ تَعَالَى )) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

ځواب

بسم الله الرحمن الرحیم

د اسلام په ابتداء کې جګړه د کفارو لخوا پیل شوې ده ، لقوله سبحانه وتعالی : وَهُمْ بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ .... (التوبة/13).

اصلي خبره دا ده چې کفار جهاد ته د یو سیاسي ، اختلافي ، تعصوبي جګړې په سترګه ګوري لکه څنګه چې د کفارو ټول جنګونه همداسې دي ، د جهاد اصلي هدف ورته څرګند نه دی او یا خو څرګند دی طبعي خبره ده چې د حق څخه یې انکار کړی دی.

♣♣♣♣♣♣♣

د جهاد هدف د مقابل لوري وژل ، ورانول ، تسخیرول ، او تر سیاسې سلطې لاندې راوستل نه دي ، بلکې د جهاد یوازنی هدف دا دی چې ټول خلک د الله تعالی دین ته تسلیم شي ، د الله تعالی وحدانیت ومني او د شرک او کفر څخه لاس واخلي.

چې جهاد عموماً په دوو برخو ویشل شوی دی : دفاعي او قدامي.

دفاعي جهاد د کفر ، ظلم او استبداد په مقابل کې د اعلی کلمة الله لپاره قیام دی تر څو د الله تعالی ځمکه اسلامي سرحدات د کفر ، شرک او ګناهونو له شر څخه په امن او د الله تعالی په ځمکه کې اسلامي شریعت حاکم شي ، کله چې کفار پر مسلمانانو باندې تیری وکړي بالمقابل پر مسلمانانو جهاد

فرض دى ، لقوله سبحانه وتعالى:[وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ] ( البقرة /190).

ژباړه: او د الله جل جلا له  په لار کې د هغو کسانو سره جګړه وکړئ چې له تاسې سره جګړه کوي خو له حد څخه مه تېرېږئ ، بې شکه چې الله جل جلا له  هغه کسان نه خوښوي چې له حده اوړي.

او فرمايي : [وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنْ انتَهَوْا فَلا عُدْوَانَ إِلا عَلَى الظَّالِمِينَ] (البقرة /193).

ژباړه: او له دوى سره تر هغې جګړه وکړئ چې فتنه (شرک ، کفر او فساد) پاتې نه شي او د الله د دين (حکم ) يوازې د الله شي ، خو که دوى (له تېري ) لاس په سر شي نو تېرى له تېري کوونکو پرته پر بل چا نه دى روا.

دوهم قدامي جهاد دى:

د اسلام مقدس دين د الله تعالى د جانبه د ټولې نړى لپاره غوره شوى دين دى ، اسلامي امت ته دنده سپارل شوې ده چې ټولې نړى ته به دين رسوي ، مګر که چا د اسلامي دعوت مخالفت وکړ ، پر وړاندې يې خنډ واقع شول د هغوى پر وړاندې به جهاد کيږي څکه چې د رحمة لعالمين دين مخنيوى کوي او که څوک يې مخالفت نه کوي ، د اسلامي دعوت پر وړاندې خنډ نه واقع کيږي نو هغوى به اسلامي حکومت ته جزيه ورکوي.

لقوله بنى صلى الله عليه وسلم : «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ... » (رواه البخاري (24) ومسلم (33).

پس په دواړو حالاتو کې د جهاد هدف يوازې د الله تعالى د دين قيام دى او د کفر او شرک له مينځه وړل دي ، داسې چې ټول خلک د يو الله تعالى په بندګۍ کې راوستل کيږي ، د انسانانو ، شيطان ، بتانو او مخلوق له بندګۍ څخه به نجات ورکول کيږي.

د جهاد حکم د مسلمانانو حکم او سياسي اجنډا نه ده ، بلکې د الله تعالى حکم دى.

♣♣♣♣♣♣♣♣

اوس په اسلام کې د جهاد تاريخ ته لنډه کتنه کوو او بيا يې د نورو جنګونو سره مقايسه کوو:

د اسلام نه مخکې په ټوله نړۍ کې د جهالت توره تاریکي وه ، په عربو کې خلکو ژوندۍ لوڼې خښولې ، او په اورپا کې يو انسان بل انسان خوړلو ، په فارس او روم کې او د هند په وچه کې سخت بد حال وو ، دا د جهاد برکت وو او دا د ظلم او استبداد په مقابل کې اسلامي قيام وو چې د دغو ټولو ظلمونو ټغر يې د ابد لپاره ټول کړ.

د روس سرې امپراطورۍ د افغانستان پر مظلوم ولس تيرى وکړ ، غوښتل يې هغوى له دين څخه وباسي او خپل کمونيژم ورباندې وتپي ، دا د جهاد برکت وو چې افغان ولس ، ټول اسلامي امت او حتى ټولې نړۍ ته يې د دغه سور ښامار څخه نجات ورکړ ، که جهاد نه واى ، نو نن به زمونږ هيواد د مسکو يوه برخه وه ، نسلونو به مو بې دينه او د حرم شريف په ځمکه به روسان واکداران وو.

نن زمونږ په هيواد يهودو او نصاوا تيرى کړى دى هغوى يوازې د ملک په نيولو او غلام جوړولو نه راضي کيږي بلکي زمونږ څخه دا غواړي چې د هغوى باطل دين ته تسليم شو ، لقوله سبحانه وتعالى:

وَلَن تَرْضَى عَنكَ الْيَهُودُ وَلاَ النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ

دا د جهاد برکت دى چې نن هغوى د خپلو شومو اهدافو د پلې کولو پر ځاى يوازې د ځان خوندي کولو او د مرګ څخه فرار کولو ته متوجه دي.

د جهاد هدف د ظلم ، کفر ، شرک ، ګناهونو ، قطاع طريقو څخه د مظلومانو نجات او په ځمکه کې د اسلامي شريعت او عدل قيام دى او بس.

مګر د کفري جنګونو ټول تاريخ د ظلمونو ، نا حقه وژلو ، قتلونو ، سختو مالي تاوانونو ، او ورانولو پرته بل څه نه دي.

په هره ځمکه کې چې د دوى مردار او خبيث قدمونه لګيدلى دي هلته به بيا نه امن ، نه آرامي ، نه د اسلامي شريعت تحکيم او نه به هم عدل ووينئ بس فقط په ځمکه کې د فساد جوړل يې هدف وي.

که دوهم نړيوال جنګ تاسې مطالعه کړئ چې د بې شميره وژلو ، مالي تاوانونو او ورانيو ، دوښمنۍ پرته يې بله هيڅ ګټه نه وه ، ددې جنګ مالي خساره 1154 مليارده ډالره او په دغه جنګ 41 ميليونه انسانان وژل شوي دي.

جاء في موسوعة الفقهية:

انتهت الحرب العالمية الثانية فى سنة 1945م بعد استسلام ألمانيا في مايو 1945م، وإلقاء القنبلة الذرية على اليابان واستسلامها فى سبتمبر سنة 1945م، ونتج عن هذه الحرب خسائر فادحة فى الأرواح والأموال والعمران، كما أنها خلفت مشكلات اجتماعية عديدة، وقدرت هذه الخسائر بـ 1154مليار دولار، وفقد فيها 41 مليون قتيل بخلاف الجرحى والأسرى. اهـ

بس جهاد د کفر ، شرک ، بغاوت ، ګناهونو (سود ، قطاع طريق ، غلا ، رشوت ، غصب ، شرابو څښلو ، فحشاء ) پر وړاندې مسلحانه قيام دی تر څو چې د الله تعالی په ځمکه کې اسلامي شريعت حاکم شي.

و بالله توفيق و صلی الله تعالی علی محمد و علی اله وصبحه اجمعين

## په اسلام کې د حدونو د قيام حکمتونه او ګټې

١ -د پنځو سترو حياتي بنسټونو ساتل :

د اسلامي شريعت د حدونو د قيام او د جرائمو پر وړاندې د مقابلې يو مقصد دادی تر څو د انسان دغه حياتي بنسټيز اصول لکه : دين ، نفس ، عقل ، نسل او مال وساتل شي.

مثلاً د د دين د ساتنې د پاره د ارتداد حد ، د نفس د ساتنې د پاره قصاص ، د عقل د ساتنې د پاره د شرابو څښلو حد ، د نسل د ساتنې د پاره د زنا حد او د مال د ساتنې د پاره د غلا او قطاع الطريق حد ټاکل شوی دی.

٢ -ټولنه د جرايمو د سخت توفان له بربادی ساتل کيږي :

جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي» : مثل القائم على حدود الله ، والواقع فيها، كمثل قوم استهموا في سفينة، فأصاب بعضهم أعلاها، وأصاب بعضهم أسفلها، فكان الذين في أسفلها إذا استقوا مرّوا على من فوقهم، فقالوا: لو أنا خرقنا في نصيبنا خرقاً، ولم نؤذ من فوقنا، فإن تركوهم وما أرادوا، هلكوا جميعاً، وإن أخذوا على أيديهم نجوا ونجوا جميعاً» (البخاري . )

ژباړه : مثال د هغه کسانو چې حدود الله رعايت کوي او هغه کسان چې حدود نه رعايت کوي په مثال د يوې کښتی دی چې (مسافر پکې سپاره وي ) او د سوريدو د پاره بچه اچونه کوي په نتجه کې ځنې په پاسنی طبقه او ځنې په لاندنی طبقه کې ځای پر ځای کيږي ، د لاندنی طبقې خلک د ابو د پاره د پاسنی طبقې خلکو ته راشي ، بيا يو له بله مشوره کوي چې د پاس طبقې خلکو مزاهمت به نه کوو ، ښه به دا

وي چې د ځان د پاره کشتۍ سورۍ کړو ( او مستقيماً به د دریاب له اوبو څخه استفاده کوو ) ، او پاس کسان به نه اذيت کوو ، کچېرې د پاسنۍ طبقې خلک د لاندنۍ طبقې خلک همداسې آزاد پرېږدي او منع يې نه کړي نو ټول به هلاک شي مګر که د هغوی مخه ونيسي ټول به نجات ومومي.

۳ -په ټولنه کې د جرائمو مخنيوی :

په ټولنه کې د فساد ، ګناه او منکراتو خپرول خطرناک دي ځکه په خلکو کې رواج مومي او خلک وربانديې اخته کيږي په ټولنه کې د فساد او فحشاء خپروونکو ته د سخت وعيد خبرداریٔ ورکړ شوی دی ، لقوله سبحانه وتعالی: [ إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ ) [النور :۱۹)

ژباړه : کوم کسان چه غواړي د مسلمانانو په ډله کې فحشآء خوره کړي شته دغو (کسانو ) ته په دنيا او آخرت کې سخت دردوکی عذاب

د حدونو په قيام سره د فحشاء او منکراتو د خپراوي مخنوی کيږي.

۴ -د عالم بقاء :

د قصاص په نفاذ سره د ناحقه وينو تويولو مخنيوی کيږي ، د خپل مينځي جګړې او دوښمنۍ مخنيوی کيږي او بلاخره په ټول عالم کې امن قايميږي.

ځکه که قصاص وي نو قاتل د بل په قتل کې د ځان قتل بولي او په دې سره د ټولو ژوند خوندي کيږي ، لقوله سبحانه وتعالی]:ولکم في القصاص حياة يا أولي الألباب) [البقرة:۱۷۹.(

ژباړه : او تاسې لره دی په قصاص کې ژوندون ای خاوندانو د عقلونو ( لپاره ددې چې تاسې ځان وساتئ له نا حقه وينو تويولو څخه.

۵ -دايمي امن :

د حدونو په عملي کولو سره دايمي امن رامينځته کيږي او د جرائمو مخنيوی کيږي په حدودو کې دايمي امن ځکه دی چې دا د عقيدې سره تړاو لري نه د يوه حکومت او حاکم له موجوديت او ظاهري زور او قدرت سره.

۶ -په خلکو کې د ګناهونو د وېرې خپرول :

د حدودو په قیام سره په خلکو کې د ګناه د خطرناکو پایلو وېره خپرېږي او پوهیږي چې د ګناه دنیوي عذاب دومره دی نو اخروي عذاب به یې څومره سخت وي چې په دې سره له ګناهونو څخه ډډه کوي.

۷ -وقایه تر علاج غوره ده :

څرنګه چې حدود د خلکو په عام محضر کې تر سره کیږي خلک د هغه څخه عبرت اخلي ، له ځان سره حساب کوي د خیر د جلب او د ګناهونو په وقایه کولو کې کوښښ کوي ځکه د حد جاري کېدل ده ته عملي درس ورکول دي.

۸ -د خلکو پاکېدل له ګناه څخه :

طبعي خبره ده چې په هره ټولنه کې ضعیف الایمانه ، شهوت پرسته او فاسد خلک وي چې غواړي فساد او جرائمو ته لاس واچوي او په ټولنه کې ګناهونه تر سره کړي چې د حدودو په وسیله د دغو کسانو مخه نیول کیږي او ټولنه له ګناهونو څخه پاکیږي ، په ښکاره توګه هیڅ څوک د ګناه او جرم کولو جرئت نشي کولای.

۹ -د مجرم اصلاح :

د حدونو د قیام بل مقصد دادی چې خپله مجرم اصلاح کیږي هغه د زجر په ورکولو سره د آینده لپاره له جرمونو څخه را ګرځول کیږي.

۱۰ -د عدل قیام :

شرعي حدونه سراسر پر عدل ولاړ دي ، په قتل کې بامثل قتل او قصاص دی او په زاني باندې حد دی داسې نه لکه ځنې طاغوتي فیصلې چې جرم یو کړی وي او په بدو کې میږوخې او پیغلې ښځې ورکوي ، قتل یو کس کړی وي خو ددې انجام دوښمني شي چې په مکمل قوم کې تر ډېر وخته د ناحقه وینې تویول دوام مومي.

د الله تعالی د جانبه د پیغمبرانو او اسلامي شریعت د رالیږلو آساسي هدف په خلکو کې د عدل قیام دی ، لقوله سبحانه وتعالی : لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ( الحدید ۲۵)

ژباړه : يقيناً چې مونږ خپل پيغمبران له خپلو روښانه او ځرګندو هداياتو سره وليږل او له هغوی سره مو کتاب او تله نازل کړی ۆ تر څو پرخلکو کې عدل قايم شي.

په احاديثو کې د عادل حکمران (هغه چې په اسلامي شريعت حکم کوي ) او ظلم نه کوي ډير فضيلت راغلی دی په يو متفق عليه حديث راغلي چې :اوه کسان به د قيامت په ورځ د عرش تر سيوري لاندی وي د هغې جملې به يو هم عادل امام وي.

–سَبعَة ٌيُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّه يَومَ لاَ ظِلَّ اِلا ٍّظِلُّه اَلاِمَامُ العَادِلُ ........(البخاري او مسلم ).

و ما توفيقي الا بالله عليه توکلت و اليه انيب

## د ښځې او نارينه د مساوات او حقوقو په اړه د يوې شبهې ځواب

پوښتنه : السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته،غواړم خپله پوښتنه پدې ډول ستاسې حضورته وړاندې کړم هغه دا چې اوس مهال دغرب څخه يوه را وارده شوي کليمه ( جندر ) په دولتي او نا دولتي ادارو کې کارول کيږي او په اړه يې سيمينارونه او ورکشاپونه نيول کيږي او هدف يې دا دی چې د نارينه او ښځينه د مساواتو تر عنوان لاندې ښځه او نر ځرنګه سره ګډ کړي که هغه په کار کې وي او که په نورو مسايلو کې وي حتي تر دې چې ځينې سريح اسلامي احکام لکه طلاق ،بغير د محرم څخه سفر او داسې نور هم تر سوال لاندې راولي او نه يې مني او داسې .

هيله کوم چې دې موضوع ته يو په اسلامي دلايلو ځواب راکړئ ، مننه .

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

د حق او مسئوليت تر مينځ فرق دی ، ښځه د نفقې ګټلو لپاره د کور څخه وتلو ته مجبوروول حق نه دی بلکې د هغه پر سر باندې د يو دروند مسئوليت اچول دي ، د بيګانه نارينه او ښځو اختلاط او کېدون د ښځو حق نه دی ، بلکې د ښځې کرامت تر پښو لاندې کول ، د شهواني اعراضو لپاره کارول ، او په ټولنه کې جنسي فساد جوړل او دوو مختلفو چارچونو ته چارت ورکول دي. ددې مسئلې تحليل او څيړنه څه بيان غواړي چې په لاندې ډول بيانيږي :

**اول- د نارينه او ښځې مساوات :**

د اسلام مقدس دين د نر او ښځې مساوات د انسانيت او بشري کرامت په دايره کې تضمين کړي دي.

د ښځې او نر تر مينځ چه په ځينو حقونو او دندو او مسئوليتونو کې فرق ورکړشوی دی دا فرق د فطري اختلافاتو په نظر کې نيولو سره شوی دی چه دا اختلافات په قطعي توګه په ښځه او نر کې موجود وي.

د اسلام مقدس دين چه د ښځې او نر ترمينځ د حقوقو او د ندو يا وظايفو کوم ويش کړی دی ډيرعادلانه، د هر اړخيز حکمت،مصلحت او د فطري جوړښت په نظر کې نيولو سره شوی دی.

نر يا ښځه هغه وخت خپل آساسي وظايف په کاميابۍ سره ترسره کولای شي چه د فطري جوړښت مطابق وظيفه او دنده ور وسپارل شي.

مثلاً ښځه نسبت نر ته د لوړ رحم،عاطفې او زړه سوي لرونکې ده نو ځکه ښځه د مور کيدلو لوړ قابليت لري .

هغه مور وي چه کومه شپه يې اولاد نارام يا نا روغ وي ترسبا د خپل بچي لپاره شپه په رڼو سترګو سبا کوي آيا پلار به دومره حوصله وکړای شي؟ نه

اسلام مشري او قيادت يواځې د نر لپاره ټاکلی لقوله سبحانه تعالى: [الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ] (النساء ۳۴)

ژباړه: سړي پر ښځو حاکمان دي له دې کبله چې الله ځينې د دوی ته پر ځينو نورو فضيلت ور کړی دی او له دې امله چې نارينه (د ښځو لپاره) خپله شتمني لګوي.

يعني : نارينه ته د مشرۍ سپارلو حکمت دا دی چې: سړي د کور خرچ برداشت کوي،له نورو خلکو سره اجتماعی روابط لري او د خارجي حوادثو لپاره د قوي جسم لرونکی وي همدارنګه د حکومت مشري او قيادت هم د نارينه د پاره مناسب دی ځکه حکومت داسې يوه قوه وي چه د خلکو د حقونو ساتنه وکړای شي،عدالت قايم کړي. خو حکومت هغه وخت خپلو موخو ته رسيدلای شي چه حدود جاري کړي،مجرم ته سزا ورکړی د ظالم د ظلم مخ ونيسی.

يو خو دا چه دغه دنده د ظالم،جابر،بدمعاش اومجرم پر وړاندې مبارزه او د خلكو د حقونو ساتنه يوه درنه دنده ده د ښځې د فطري جوښت سره مناسبه نده.

بل دا چه ښځه نسبت نر ته د رحم،عاطفې او زړه سوي په لرلو سره ددې ويره وي چه ښځه به د حدودو په جاري كولو او مجرم ته د سزا په وركولو كې پاتې راشي او د خپل رحم،او عاطفې له مخې به مجرم ته سزا ورنشي كړاى. كله چه مجرم ته سزا ورنشي كړاى نو هيڅ كله هم د امنيت راتګ او د خلكو د حقونو ساتنه نشي كيداي.

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:«لن يفلح قوم ولوا أمرهم امرأةً»

يعني: هغه قوم به كامياب نه شي د كوم قوم چې د مشرئ او قيادت چارې يې د ښځې په لاس كې وي.

په نارينه د خپل اهل عيال نفقه فرض شوې ترڅو د نفقې ګټلو لپاره د كور څخه بهر منډې ترړې ووهي كله داسې وخت هم راشي چه په خپل ولس او سيمه كې كار او كسب نه پيداكيږي نو سړى لرې لرې ملكونو ته د نفقې ګټلو لپاره سفر كوي،مسافرئ كوي آيا ښځه داسې كارونه كولاى شي؟

نر او ښځه په حقونو او دندو كې (په كومو كې چه د فطري اختلاف په وجه فرق لري)هغه وخت مساوي كيداى شي چې د نر او ښځې فطري جوړښت سره مساوي شي آيا د ښځې يا نر فطري جوړښت ته څوک تغير وركولاى شي؟ نه

نو د ښځې د فطري جوړښت خلاف دنده ورسپارل د ښځې پر فطري خواصو تجاوز نه دى؟ او دا د ښځې په حق كې ظلم نه دى؟ د ښځې د حقوقو او مساواتو داعيان د كور كار او د اولاد روزنې او پالنې ته دنده نه وايې په داسې حال كې چه نن ورځ په نړۍ كې د انسانانو د تعليمى روزنې لپاره بى شميره مدرسې،مكاتب،پوهتونونه او نور علمي مراكز او ليليې لوى لوى انتظامات او مصارف په نظر كې نيول شوي دي.

آيا د انسان ابتدايې بدني روزنې ته هم دنده نه وايې؟

او يا دا چې د ښځې د ميراث په برخه نيوكه كوي چې ولى ښځه د نارينه په نسبت نيمه برخه اخلي ؟

ښځه د پلارګنۍ او خسرګنۍ دواړو طرفونو څخه میراث وړي ، او د مهر اخیستلو حق لري ، د میراث مسئله مالي مسئله ده ، او مالي مسئولیت ، خرڅ او نفقه برابرول او همدارنګه مهر ورکول د نارینه مسئولیت دی د ښځې مسئولیت نه دی ښځه خپله برخه او مهر ټول د ځان لپاره ساتلی شي .

پس الله تعالی د خپل پیدا کړې مخلوق په چارو ښه عالم او پوه دی.

[أَلاَ يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ] (الملک :۱۴ ) .

ژباړه : آیا هغه څوک نه پوهیږي چې پیدایښت یې کړی ؟ او هغه له ډیرو پټو او باریکو شیانو څخه خبر دی .

فرانسوی لیکواله مریم هاري مسلمانو ښځو ته داسې وایي: ګرانو خویندو!
تاسو زمونږ په پلونو قدمونه مه ږدئ او زمونږ د اروپایي ښځو څخه پیروي مه کوئ ځکه تاسې په دې نه پوهیږئ چې مونږ دغه کرکجنه آزادي په کوم قیمت تر لاسه کړې خو زه تاسې ته یو څه ویل غواړم او هغه دا چې تاسو په خپلو پاکو کورنو کې پاکې اوسیږئ د اولادونو مهربانه میندې اوسیږئ پر تاسې الله (جل جلا له) لوی رحم کړی پر تاسې یې په اسلام کې په واقعي توګه حقوق پیرزو کړي تاسو له نارینه ؤ سره سیالې مه کوئ او ځانونه خوشي په دغو مسابقو کې مه ستړي کوئ کوشش وکړئ چې د خپلو میړونو له پاره مهربانې او دردمنې ښځې ووسئ په خپلو کورونو کې د خپلو اولادونو مهربانه میندې شئ او د مورولۍ وظایف سرته ورسوئ.

د مصر د «الاخبار» جریده په دې هکله یو مضمون لري چې وائي :

مونږ دلته په دې مقاله کې د هغې شکایت نامې د مضمون روحیه رانقلوو چې ۲|۵ میلوینه فرانسوي ښځو په هغې کې امضاء کړی او لیکلي یې دي چې:
مونږ د نارینه ووسره د مساوي حقوقو د برابرې مسئلې زښته اندیښمنې کړي یو، د تردد او پریشانیو سره مخامخ یو او همدغو اندیښنو پر مونږ خوب حرام کړی او په دې لټه کې یو چې په څه توګه کار او وظیفه پیدا کړو چې تر څو د ژوند په ډګر کې د نارینه سره یو ځای ژوند تر سره کړو، مونږ د مساوات لټې له کورنی ژوند څخه دومره لیرې کړي یو چې نشو کولای په ویښه خپل میړونه ووینو مونږ یواځې خپل ماشومان د ډوډۍ په دسترخوان لیدلای شو او بس، له دې مساوات څخه مونږ ستړي یو، مونږ نور له دې مساوات څخه نفرت لرو، مونږ غواړو چې نور د کور ښځې شو او د خپلو اولادونو له پاره مهربانه میندې ووسیږو.

**ختیځ پوهه (فرانسوساجان) وائي:**

ای د ختیځ ښځې! هغه څوک چې ستا په نوم چیغې او نارې وهې او تا د حجاب د کوزولو او سرې سره د مساوات ډګر ته رابلي دوی په تا پورې خندا او ستا توهین کوي او تر تا د مخه یې په مونږ پورې خندا او زمونږ توهین کړی.

ښځه په ژوند کې تر سرې لویه نه ده مګر په یو څیز سره او هغه دا چې تر ځان لوی سړی جوړ کړي.

په ښځې توب کې د نیکمرغۍ او غوره والي اساس په شرم او حیا کیښودل شوی او کله چې ښځه له شرم او حیا څخه ووتله نو بیا بې تفاوته ده چې که ښي لور ته ولاړه او که چپ لورته هر کله او چیرته یې چې سقوط وکړ.

وروسته زیاتوي :

دا خلک چې د ښځې د ازادۍ ډنډوره غږوي.

دا تش په نامه ازادي ده، اما په معنوي لحاظ دا په رزق پسې د ښځې شړل دي.

یا په عبثیاتو او شهواتو کې د ښځې بې واکو خوشې کول دي.

یا له دین او اخلاقي نیکمرغیو څخه د ښځې راویستل دي.

په دغه تمدن کې د ښځې ازادۍ ته په لومړي ځل هر ډول نوم او عنوان ورکول کیداشي مګر په پای کې یواځې د ښځې په فساد او له مینځه تلو منتج کیږي.

**د یوې غربي ښځې فریاد مسلمانانو ښځو ته!**

(جوانا فرانسیس) امریکایي ښځه ده چې د (Feminenza) بنسټ په نوم د ښځو د حقونو مشره ده ، د غرب د ماحول او په غربي ډیموکراسۍ کې د ښځو د احوالو او حقوقو څخه پرده پورته کوي او مسلمانانو ښځو ته داسې وایي :

تر اوسه پورې د یوې طبعي ښځې ژوند لرې ، مونږ امریکایي ښځو هم تر (۱۹۶۰) پورې تقریباً همداسې ژوند لرلو چې وروسته د شریک دوښمن لخوا په چل او فریب سره په اخلاقي فساد سره بمبارت شولو .

نن چې پر تاسې باندې د امریکایي الوتکو کوم بمبارت جریان لري د هغه پر ځای یې مونږ د جنسي فساد په بمونو بمبارت کړي یو ، هغوی چې کله د دولتونو د ظاهري بمبارت څخه فارغ شي نو زمونږ په شان به مو په جنسي فساد سره بمبارت کړي .

مونږ د هغوی د دغه ډول شیطاني نفوذ څخه زیات تلفات وګالل خو تاسې باید ورڅخه ځان وساتئ .

غـوږ شـه ! د هغـوی د مسـاواتو خبرې تـش درواغ دي ، هغـوی کوښـښ کـوي مـونږ امريکـايي ميرمنې پـه شـهوت بـارونکو فلمونـو ، سـريالونو او بې حجابـه جـامو پـه درواغـو خوشـحاله وسـاتي او لـه خپـل مسئوليت او کورني ژوند څخه مو لرې کړي ، همداسې هغوی غواړي ستاسې کورنی ژوند برباد کړي .

د ښځې جسماني جاذبه بايد د بې لياقته څخه پټه وساتل شي او دا د هغه چا لپاره هديه کړ شي چې پر تا باندې غيرت کوي ، ستاسې ميړونه نارينه دي ، غيرت لري ، شجاعت لري ، پاکي او عفت خوښوي .

زمونږ نارينه نور پاکدامني او عفت نه خوښـوي هغـوی د ملغلرې پـر ځـای د زرق او بـرق والـه مصـنوعي ډبرې خوښوي چې سوء استفاده ور څخه وکړي او بيا يې وغورځوي .

زه متوجه شـوې يمـه چې ځينې مسـلمانې ښـځې بې حجـابې خوښـوي ، د خپلـو حـدودو څخـه تيری کـوي د غرب د ښځو تقليد کوي او غواړي چې د غرب د ښځو پشان شي .

تاسې ولی د هغـو ښـځو تقليـد وکـړئ چې د خپـل تللي عـزت او عفـت بانـدې پښـېمانه دي چې هـيڅ جبران نلري ؟

تاسې د بې عيبه الماس په شان ياست هغوی مه پرېږدئ چې بې قيمه ډبرې مو وګرځوي .

تاسې چې د غرب په مجلو او تلويزونو کې څه وينئ ، درواغ او شيطاني دام دی .

تاسې لپاره د امن يوازنی ځای د خپل خاوند پناګاه ده . پر ما اعتماد وکړئ ! مونږ اکثره خوشحاله نه يو زمونږ څخه په ميليونو د خپګان ګولی خوري .

زمونږ غربي ښځو مغزونـه مينځـل شـوي دي او پـه حقيقـت کې پـر مـونږ ظلـم شـوی ، د موډ او فيشـن غلامانې يـو چې زمونږ پوسـت وباسـي ، (عـزت او عفـت مـو لـيلام شـوی) د نارينـه د محبـت ګـدايي ګـرې او سـوالګرې يو .

## د اسلامي ذبحې (مرې پرې کولو) حکمت څه دی ؟

سلامونه او نېکې هيلې مې ومنئ
پوښتنه مې داده چې نن مو صنف کې همصنفيانو سره ګروپي بحث درلود يوه پوښتنه وکړه چې ولې

مسلمانان حیوان حلالوي چون هغه هندو دی له ما څخه منطقي دلیل غواړي.
مننه

ځواب

بسم الله الرحمن الرحیم

د اسلامي ذبحې لپاره لاندې شرطونه دي:

۱ -ذبحه کوونکی به مسلمان یا اهل کتاب وي ، د ذبحې کولو اهلیت به لري چې عقل دی.

۲ -د څاروي په مری کې پرې کول او د وینې بهول ، هغه به په تیزه آله لکه چاړه او نورو ذبحه کیږي.

۳ -د ذبحې پر مهال د الله تعالی نوم یادول.

لقوله سبحانه وتعالی : [وَلاَتَأْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ ] (الانعام:۱۲۱).

ژباړه: او مه خورئ تاسي له هغې (مرداری) چې نه وي یاد کړای سوی نوم د الله ٬ پر هغې باندي (عمدًا) او بې شکه چې دا خوراک خامخا ګناه ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

«مَا أَنْهَرَ الدَّمُ وَذُكِرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ فَكُلُوْا مَا لَمْ يَكُنْ سِنًّا أَوْ ظُفْرًا» [بخاري:۵۴۹۸].


ژباړه : (خورئ هغه چې ويني بې وبهوي او د الله پاک نوم وربانديي یاد شي خو چې (هغه د حلالولو شی) نوک او غاښ نه وي.

په مري کې د څاروي د حلالولو او وینه بهولو حکمت:

۱ -په څاروي باندې رحم کول څکه د مري په پرې کولو سره د هغه عصبي سیستم پرې کیږي چې په دې سره تکلیف کمیږي.

۲ -د څاروي په وینه کې ځینې زهري مواد ، جراثم او میکروبونه وي چې د مري په پرې کولو سره د څاروي ټوله وینه له بدن څخه وځي چې په دې سره غوښه پاکیږي.

په لاندې شکل کې ښي طرف ته د مردارې غوښې چې له زهرجنو موادو ډکه ده او چپ طرف ته د پاکې غوښې ميکروسکوپي تصويرونه دي.



اللحم غير المكبر عليه: يبدو بلون مزرق محتقن بالدماء　مقاطع نسيجية عضلية　اللحم المكبر عليه: يبدو بلون وردي فاتح غير محتقن

## د ښځو ورځ لمانځنې اصلي موخه اوهدف څه دی ؟

**لومړی :**

دا چې د مور د ورځې يا ښځې د ورځې ، معلم د ورځې ، کارکر د ورځې او حتی د خره د ورځې لمانځل په اسلام کې هيڅ اصل نلري.

«مَن أحدثَ في أمرِنا هذا ما لَيسَ فيهِ فَهُوَ رَدٌّ» (بخاری او مسلم ).

ژباړه:هر چا چې په امر (دين ) زمونږ کې داسې عمل پيدا کړ چې له هغه نه وي (په دين کې نه وي ) نو مردود دی

«إيّاكُم وَ مُحدَثاتِ الأُمورِ؛ فإنَّ كُلَّ مُحدَثَةٍ بِدعَةٌ، و كُلَّ بِدعَةٍ ضَلالَةٌ، وَ كُلَّ ضَلالَةٍ في النّارِ» :

(ابوداود(4607) ، ترمذي(2676)

ژباړه: په دين کې د نوي پيدا شويو نه پرهيز وکړئ چې هر نوی شی بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده او دهرې ګمراهی انجام اور دی.

دا د کفر تقليد دی چې ايماني مريضان ، د اسلام څخه نا خبره او خوبه وړي مسلمانان ورباندې ګرفتار شوي دي ، په دې اړه جناب رسول صلی الله عليه وسلم پخوا مونږ داسې خبر راکړئ دی:

«لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَن كانَ قَبلَكُم شِبراً شِبراً وَ ذِراعاً بِذِراعٍ؛ حتّي لَو دَخَلُوا جُحرَ ضَبٍّ تَبِعتُمُوهُم. قُلنا: يا رَسُولَ اللهِ. اليَهُودُ وَ النَّصاري؟ قالَ :فَمَن؟!» (البخاري ).

ژباړه : حتماً به دوی د هغوی لاره چې مخکې له تاسو ؤ (اهل کتاب ،يهود او نصارا) لويشت په لويشت او

ګز په ګز تعقیب کړي تر دي چې که د کربوړي په غار ننوځي دوی به د هغوی څخه پیروي کوئ ، ومې ویل: ای رسول الله صلی الله علیه وسلم : هدف مو یهود او نصار دي ؟ ویې فرمایل نو څوک دي ؟

**دوهم :**

اسلام هر ورځ او ټول عمر د مور د احترام او د هغه سره د ښه سلوک کولو او همدارنګه هره ورځ او ټول ژوند یې د ښځې سره د ښه سلوک کولو ډیر ټینګار کړی دی.

قوله تعلی : ووصینا الإنسان بوالدیه حسناً (العنکبوت / 8.)

ژباړه : او انسان ته مو د هغه د پلار او مور سره د ښه چلند په کولو سپارښت وکړ.

لا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً ..(البقرة:83).

ژباړه : بې له الله د بل څه عبادت مه کوئ او له مور او پلار سره به ښېګڼه کوئ.

[وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا] (النساء ١٩)

ژباړه : (( اوله هغی (ښځو) سره په ښه طریقه ژوند تیر کړی ، بیا که هغه ستاسی (په څه وجه ) خوښی نه وي نو کیدای شي چې یو شی ستا خوښ نه وي خو الله جل جلا له په هغه کی (ستاسو) لپاره ډیره څه ښیګڼه ایښی وي)).

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : أکمل المؤمنین إیمانا أحسنهم خلقا . وخیارکم خیارکم لنسائهم (ترمذي ١١۶٢، مشکاة المصابیح ٣٢٠٠).

ژباړه : د ایمان په اعتبار سره ستاسو کښې کامل ایمان والا هغه څوک دی چه د هغه اخلاق اوخوی ښه وي او تاسی کې بهترین اوغوره هغه دی چه د خپلی ښځې سره یی سلوک ښه وي.

عجیبه دا ده چې نن هغه کسان چې کله یې والدین زاړه او له ګټې ولویږي په اصطلاح د (مشرانو کور) ته لیږي او د ښځې نه فقط د شهوت رانی په توګه کار اخلي نن دغه کسان مونږ ته د ښځې د حقوقو خبرې کوي

نن مونږ ته د (Girl friend & by friend) سیستم واله د ښځو د حقوقو خبرې کوي (أستغفرالله).

**دریم :**

د ښځې د نمایشي ورځ لمانځني په بهانه اصلاً د کفري ملت هدف په خاصه توګه په اسلامي هیوادونو کې دا دی تر څو د ښځې حجاب لرې او هغه په ټولو چارو کې ( روغتون ، دفتر ، علمي مراکزو ) ، تجارت ، سیاحت او حتی مسافرت کې د بیګانه خلکو سره مخلوطې او ګډې کړي ، تر څو د فحشاء ، بې حیایی او بې دینی فضا را مینځته شي خلک په نفساني خواهشاتو او فساد کې تر پوزې غرق کړ شي چې په دې سره خپل غیرت او ایماني احساس له لاسه ورکړي او بیا د خپلې خوښې حکومت پرې وکړي.

## غرب په اسلامي هيوادونو کې څه ډول اسلام غواړي ؟

غرب داسې اسلام غواړي چې په اسلامي هيوادونو کې حکومت د دوی وي په حکومت او قضاء کې د اسلامي شريعت د قانون پر ځای سيکولرزم حاکم وي د حکومت او قضاء قانون به د اسلامي شريعت پر ځای د بشر ساختګي قانون وي .

خو جومات به د مسلمانان وي داسې چې محراب به د دوی په کنترول او حاکميت کې وي نور د مسلمانانو په فردي اعمال لمونځونو ، ښه ډيرو نفلونه ، روژه نيولو او حج کار نلري څکه دغه اعمال د دوی د پاره او د دوی د حکومت د پاره ضرر نلري.

امر بالمعروف او نهی عن المنکر به يوازې د ثواب او فضيلت په بيانولو پورې منحصر وي د منکراتو بيان به نه وي.

د منکراتو او ناروا کارونو لپاره تبليغ کول لکه : د سود ، قمار لپاره علني دعوت او تبليغ کول ، د رشوت رواجول ، د فحشاء ، الحاد او سيکولرزم ، مسيحيت او بوديزم ته د خلکو دعوت او د اسلامي شعايرو سپکاوی به د بيان آزادي وي.

مګر د اسلام د دفاع لپاره هر ډول تبليغات به تروريزم بلل کيږي .

و ماتوفيقي الا بالله عليه توکلت واليه انيب

داعي الارض أفغان حمدالله "شاکري"

غفره الله ولوالديه ولجميع المسلمين

خپرونه او ترتيب

قافله دعوت إلی الله آن لاين اسلامي لارښود

www.dawat610.com